د کورنو داصلاح لپاره ځلوېښت نصیحتونه

تالیف : الشیخ صالح المنجد

پښتو ترجمه : عامر حسن

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله... أما بعد:

(كور يو نعمت دى)

الله تعالى فرمايي:{وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا} [النحل: 80]

ترجمه :{ الله تعالى ستاسو لپاره ستاسو كورونه داوسيدو او سكونت ځايونه ګرځولي دي}

ابن كثير رحمه الله ددي ايت په تفسير كي ليكي«**يذكر تبارك وتعالى تمام نعمه على عبيده، بما جعل لهم من البيوت التي هي سكن لهم يأوون إليها، ويستترون، وينتفعون بها سائر وجوه الانتفاع**»(1)

ترجمه: الله تعالى پدي ايت كريمه كي په بنده باندي د خپلو پوره نعمتونو تذكره كوي او د هغي نعمتونو څخه يو دا نعمت دى چي الله ددوى لپاره كورونه ګرځولي دي په هغي كي دوى اوسيږي او پټيږي او د هغي نه هر قسم فايد ي حاصلوي

كور زمونږ د يو كس لپاره څه فريضه ادا كوي آيا دا كور دده د خوراک ځاي ندى ؟ ايا دا دده د نكاح د خوب او راحت ځاي ندى؟ايا دا دده لپاره دخلوت او دخپل اهل او اولاد سره د اجتماع ځاي ندى؟

---

(1)تفسير القران العظيم (4، 507)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايا دا د ښځی د حفاظت او ستر ځاي ندی ؟

الله تعالى فرمايي: {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى}الاحزاب 33

{ای ښځو په خپلو کورونو کي کينئ او د جاهليت دول مه ښکاره کوئ}

او کله چی ته د هغه خلکو په حال کي فکر وکړي چي د هغوئ کورونه نشته او په صحرا او د سړکونو په سرونو باندي اوسيږي هغه خلک چي متاثرين دي او په خيمو کي اوسيږي نو ته به د کور نعمت وپيژنی

او کله چی ته د يو پريشانه متاثر نه واوري چي وايي زما لپاره د قرارئ ځاي نشته زما د اوسيدو ځاي نشته کله ديو په کور کي اوده کيږم او کله د بل کله په هو ټل کی شپه تيروم او کله په باغ کي يا د سمندر په غاړه زما د جامو د ايخودو ځآي زما ګاړی دی نو کله چي ته دا هر څه واوري تاته به د کور د نعمت او د کور نه د محروموالي قباحت معلوم شي

او کله چي الله د بنو نضيرو نه انتقام واغسته نو دا نعمت يي تري واغسته الله فرمايي{هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِن دِيَارِهِمْ لِأَوَّلِ الْحَشْرِ مَا ظَنَنتُمْ أَن يَخْرُجُوا وَظَنُّوا أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمْ حُصُونُهُم مِّنَ اللَّهِ فَأَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ فَاعْتَبِرُوا يَاأُولِي الْأَبْصَارِ} الحشر 2

((الله هغه ذات دي چي هغه کسان يي د خپلو کورنو څخه ويستلي چي اهل کتاب وو بيا فرمايي دوی خپل کورنه په خپلو لاسونو او دمسلمانانو په لاسونو ورانول نو پس تاسو عبرت واخلئ ای د عقل خاوندانو))

او هغه شيان چی يو مسلمان لره باعث ګرځي پدي باندي چي د خپل کور اصلاح وکړي هغه يو څو شيان دي

چي په لاندي دول بيانيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

١خپل ځان او کور والا د جهنم نه بچ کول او د سخت عذاب نه ځان بچ کول

الله تعالی فرمايي{يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ } التحريم(6)

{ای مومنانو خپل ځانونه او خپل اهل د هغه اور نه بچ کړی چي د هغي خشاک انسانان او کاڼي د ي او په هغي باندي داسي سختي پرشتي ولاړي د ي چي د الله تعالی د هيڅ حکم نافرماني نه کوي}

٢ د کور په مالک باندي چي کوم مسؤوليت دي د هغي غټ ګڼړل او د هغي په ورځ د قيامت دالله مخی ته جواب ورکول ضروري ګڼړل

د انس رضی الله عنه نه روايت دی«إِنَّ اللهَ سَائِلٌ كُلَّ رَاعٍ عَنْ مَا اسْتَرْعَاهُ حَفِظَ ذَلِكَ أَمْ ضَيَّعَ؟ حَتَّى يَسْأَلَ الرَّجُلَ عَنْ أَهْلِ بَيْتِهِ»(1)

[چي الله تعالی به د هر مسؤول نه تپوس کوي چي کو م ته يو مسؤوليت ورکړی وي چي ايا هغه دا مسووليت په ښه ډول ادا کړی دی که ضايع کړی يي دی تردي چي د کور د مالک نه به د هغه د اهل باره کي تپوس کولی شي]

٣ ځکه چی کور د نفس دحفاظت ځای دی او نفس د شرونو څخه بچ کوی او نفس ددی نه منع کوی چي نورو خلکو ته شر ورسوی

او کور د فتنو په وخت کي د اوسيدو حقيقي ځاي دی

نبي ﷺ فرمايي

«طُوبَى لِمَنْ مَلَكَ لِسَانَهُ، وَوَسِعَهُ بَيْتُهُ، وَبَكَى عَلَى خَطِيئَتِهِ»(2)

[د هغه چا لپاره خوشخبری ده چي د خپلي ژبي حفاظت وکړي او په خپل کور کی کيني او په خپله ګناه باندي وژاړي]

---

(1) رواه النسائي في السنن الكبرى (9219)، وحسنه الألباني في صحيح الجامع

(2) رواه الطبراني في المعجم الأوسط (0432)

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاذ بن جبل رضي الله عنه فرمايي" **خمس من فعل واحد منهن كان على الله . من عاد مريضا . أو خرج غازيا . أو دخل على إمامه يريد تعزيره وتوقيره . أو قعد في بيته فسلم الناس منه وسلم من الناس " . (1)**

[نبی علیه السلام مونږ سره د ۵ شیانو وعده کړي ده چا چي پدي کي يو هم وکه نو هغه به دالله په ذمه کي وي ۱ چا چي د مريض عيادت وکه ۲ يا جنازي سره لاړ ۳ يا د الله په لار کي د جهاد لپاره ووته يا ديو امام خواته لاړی دي لپاره چي احترام ورله وکړی يا په خپل کور کي کيناسته خلک دده د شره نه په ارام دي او دا د خلکو د شر نه]

او نبي عليه السلام يو بل ارشاد دی" **سلامة الرجل من الفتنة أن يلزم بيته " . (2)**

[د يو سړي دپاره دفتني نه د بچ كيدو علاج دادی چي خپل كوركي كيني]

ليكن ددی فايده انسان ته هله معلوميږی چی د غربت په حالت کی وی او د منکراتو تبديل يی په طاقت کی نه وی نو بيا به کور د هغه لپاره د حفاظت ځای وی چی خپل ځان به پکی د محرم کارونو او محرم نظر نه ساتی او خپل اهل به د ډول ښکاره کولو نه او خپل اولاد د بدو ملګرو نه پکی ساتی

۴ دا چی اکثره خلک خپل غالب وختونه په کورونو کی تيروی خاص طور په سخته ګرمی يخنی يا بارانونو کی يا د دورځی اولنی يا اخرنی وخت او کله چی د کار يا سبق نه فارغ شی نو هم کور کی وخت تيروی نو ددوی لپاره پدی وختونو کی ضروری ده چی دا اوقات په طاعت دالله کی تير کړی که نه وی نو په حرامو کی به ترينه ضايع شی

5 او دا ددی ټولو نه اهمه ده چی د کور اهتمام کول د يو مسلمان مجتمع لپاره غټه وسيله ده ځکه چی معاشره د کورونو نه جوړيږی او دا کورونه د معاشری ښښتی دی نو که د ا ښښتی يعنی کورنه صالحه وو نو معاشره به د الله تعالی د احکامو تابعداره وی ددشمن په مقابله کی به مضبوطه وی خير به پکی خوريګی او شر به ورته نه راځی

---

(1) رواه أحمد (97012)،(2) رواه الديلمي الجامع الصغير(2695)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا به ددی کورونو نه معاشری ته دا عیان طالب علمان مجاهدین نیکی ښځی او تربیت کونکی مورگانی او نور مصلحین ووځي

نو کله چی ددی اهمیت ډیر دی او حال دا چی زمونږ کورونه د منکراتو نه ډک دی تقصیر او افراط تفریط پکی موجود دی نو دلته یو سوال ذهن ته راځی

هغه دا چی هغه کوم وسایل دی چی هغی سره مونږ د کورونو اصلاح وکړو؟

نو ای لوستونکیه ته ددي سوال جواب ته غوږ شه زه ددي جواب په یو څو نصیحتونو کي کوم دالله نه امید دی چي پدي سره ټول امت ته نفع ورسوي او ددي امت دبچیانو افکار د یو نوي کور د جوړولو طرفته متوجه کړي

او دا نصیحتونه په دوه شیانو باندي مشتمل دي ۱ د مصلحتونو حاصلول او ددي نه مراد دادي چي مونږ امر بالمعروف وکړو ۲ د مفاسدو دفع کول ددي نه مراد دمنکراتو ختمول دي

نو راځه چي په خپل مقصد باندي شروع وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کور جوړول

١ د ښې او نیکې ښځې اختیارول

الله تعالی فرمایی«وَأَنكِحُوا الْأَيَامَى مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ.. إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ»سورة النور الآية 32

((او کونډې ښځې په نکاح باندې ورکړی او خپلو نیکانو غلامانو او وینزو لره نکاح وکړی که چیرته دوی غریبانان وی نو الله به په خپل فضل سره دوی مالداره کړی او الله پراخه او پوهه ذات دی))

د هر مسلمان لپاره پکار دی چې د یوی نیکی ښځی انتخاب وکړی او دا په لاندی شرطونو باندی

" تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلَى إِحْدَى خِصَالٍ ثَلَاثٍ: عَلَى مَالِهَا. عَلَى جَمَالِهَا. عَلَى دِينِهَا. فَعَلَيْكَ بِذَاتِ الدِّينِ وَالْخُلُقِ تَرِبَتْ يَمِينُكَ"(1)

---

(1) متفق علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

((د څلورو صفاتو د وجی نه د ښځی سره نکاح کولی شی ۱ د هغی د مال دوجی ۲ دهغی دنسب د وجی ۳ دهغی دښایست دوجی ۴ دهغی ددین دوجی نو ددینداری سره نکاح وکړه کامیاب به شی))

نبي كريم ﷺ فرمايي: ((الدُّنيَا مَتَاعٌ, وَخَيْرُ مَتَاعِهَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ)(1))

ترجمه :دنیا ټولی فایدی فایدی دی او نیکه ښځه ددنیا د غوره فایدو څخه ده

((لِسَانًا ذَاكِرًا، وَقَلْبًا شَاكِرًا، وَزَوْجَةً تُعِينُ عَلَى الْآخِرَةِ ")(2))

په تاسو کی دی یو تن شکر گزار زړه والا وی او د ذکر کونکی ژبی والا دی او باید دداسی ښځی سره دی نکاح وکړی چی د اخرت په اعمالو کی د خاوند مدد کوی

او په یو روایت کی د ی رسول الله ﷺ معاذ ته فرمایی" يَا مُعَاذُ، قَلْبٌ شَاكِرٌ، وَلِسَانٌ ذَاكِرٌ، وَزَوْجَةٌ صَالِحَةٌ تُعِينُكَ عَلَى أَمْرِ دُنْيَاكَ، وَدِينِكَ خَيْرٌ، مَا اكْتَنَزَ النَّاسُ "(3)

ای معاذ باید ستا زړه د ی شکر گزار وی او ژبه دی ذکر کونکی او داسی ښځه چی ستا مدد ددین او دنیا په کارونو کی کوی ستا لپاره د هغه څه نه غوره ده چی خلک یی خزانه کوی

«تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ، فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»(4)
د ډیر محبت او ډیر بچو راړونکی ښځو سره نکاح وکړی بیشکه زه غواړم چی د قیامت په ورځ ستاسو په کثرت سره په نورو انبیا باندی فخر وکړم

---

(1) رواه مسلم 1468 (2) رواه أحمد " 282/5" (3) رواه البيهقي صحيح الجامع 4285 (4) رواه أحمد و هو صحيح الإرواء 6/ 195

(c) ketabton.com: The Digital Library

«عَلَيْكُمْ بِالأَبْكَارِ، فَإِنَّهُنَّ أَنْتَقُ أَرْحَامًا، وَأَعْذَبُ أَفْوَاهًا، وَأَقَلُّ خِبًا، وَأَرْضَى بِالْيَسِيرِ»(1)

تاسو باید د د ځوانو ښځو سره نکاح وکړی ځکه د هغوی خولی خوږې وی او رحمونه یی پراخه وی په لګ شی باندی راضی کیږی او په یو روایت کی راځی هغوی دهوکی کمی ورکوی

لکه ځنګه چی نیکه ښځه د هغه څلور شیانو څخه ده چی د سعادت اسباب دی نو دغه شان بده ښځه د هغه څلور شیانو څخه ده چی د بدبختی اسباب دی

لکه په یو صحیح حدیث کی راغلی دی نبی علیه السلام فرمایی((**فَمِنَ السَّعَادَةِ: الْمَرْأَةُ تَرَاهَا تُعْجِبُكَ، وَتَغِيبُ فَتَأْمَنُهَا عَلَى نَفْسِهَا، وَمَالِكَ، وَمِنَ الشَّقَاوَةِ))** (2)

د سعادت د اسبابو نه یو هغه ښځه ده چی ته ورته وګوری نو تا تعجب کی اچوی نو ته هغه د هغی د نفس او ستا مال باره کی امانت ګره ګنړی

: الْمَرْأَةُ تَرَاهَا فَتَسُوءُكَ، وَتَحْمِلُ لِسَانَهَا عَلَيْكَ، وَإِنْ غِبْتَ عَنْهَا لَمْ تَأْمَنْهَا عَلَى نَفْسِهَا

او دبدبختی داسبابو نه یو هغه ښځه ده چی ته ورته وګوری نو خفه کوی دی او ستا په خلاف یی ژبه راویستلی وی او ته هغه د هغی د نفس او ستا د مال باره کی امانت ګره نه ګنړی

او دغه شان بالعکس باید د هغه کس په حال کی وکتلی شی چی هغه دیوی ښځی د نکاح مطالبه کوی او باید هغه کی دا لاندینی شرطونه موجود وی

«إِذَا أَتَاكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ خُلُقَهُ وَدِينَهُ فَزَوِّجُوهُ، إِلَّا تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ»(3)

کله چی تاسو ته هغه څوک د نکاح مطالبه وکړی چی ستاسو دهغه اخلاق او دین خوښ وی نو هغه سره رشته وکړی او که چیرته دا کار ونه کړی نو په ځمکه کی به فتنه او فساد وی

---

(1) صحيح ابن ماجه (8051). (2) رواه ابن حبان وهو في السلسلة الصحيحة 282 (3)رواه ابن ماجه 1957

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوددی ټولو مذکوره شیانو سره باید دهغه باره کی پوښتنه او تحقیق وکړی شی او معلومات راجمع کړی شی او باید هغه چا باندی اعتماد وی چی هغوی د یو چا باره کی معلومات نقل کوی دی دپاره چی کور وران او ویجاړ نشی

او کله چی نیک سړی د نیکی ښځی سره یو ځای نو دواړه یو ښه کور جوړوی ځکه د پاکی ځمکی فصل دالله په اجازه راوځی او کومه ځمکه چی خبیثه وی د هغی فصل کوټه راوځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

2 د خپلې ښځې د اصلاح کولو لپاره کوښښ کول

کله چیرته ښځه نیکه او صالحه وه نو دا خو ډیره ښه خبره ده او دا د الله تعالی فضل دی چې په چا یې وکړی لیکن که چیرته هغه بد اخلاقه او بد کاره وی نو باید خاوند د هغې د اصلاح کولو کوشش وکړی

او داسې صورتحال په لاندینی حالاتو کی پیښیږی

۱ چې یو کس د یوی غیر دینداری ښځې سره نکاح وکړی دا پدی وجه چې دا کس خو یا پخپله ددین پرواه نه لرله یا یې ددین پرواه لرله لیکن پدی نیت یې ورسره واده وکه چې اصلاح یې وکړی یا د رشته دارو د زبردستی دوجې نه یې کړی وی نو پدی صورتونو کی باید بهر پور کوشش وکړی چې هغې نیکی لاری ته راواړوی

او باید سړی دا عقیده ولری چې هدایت صرف دالله له طرفه وی او صرف هغه کولی شی چې یو څوک نیک کړی

او دا دالله احسان چې د ښځې اصلاح کول دی الله په زکریا علیه السلام باندی کړی وی

" وأصلحنا له زوجه " سورة الأنبياء ، الآية **90**

((او مونږ د هغه د ښځې اصلاح وکړه ګرځولی وی))

او ددی اصلاح نه مراد اصلاح بدنی او دینی دواړه دی

ابن عباس رضی الله عنهما ددی ایت په تفسیر کی لیکی چې د هغې بچې به نه کیدل نو بچې زیږول یې شروع کړل

او عطا فرمایی د هغې ژبه کی تیزی وه نو الله د هغې اصلاح وکړه

او د ښځې د اصلاح کولو دپاره څه وسایل دی چې هغې نه بعضی په لاندی ډول دی

۱دهغې د عباداتو د اصلاح کوشش کول او ددی تفصیل لاندی راروان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲دهغی په ایمان کی د زیاتی کوشش کول او دا په لاندی شیانو باندی کیږی

۱ هغی لره په لاندی عباداتو باندی ترغیب ورکول

دشپی عبادت

۲ د قران تلاوت

۳ د اذکار یادول او د هر ذکر په مناسب وخت کی کول

۴ صدقه ورکول

۵ د هغه اسلامی کتابونو لوستل چی فایده مند وی

۶ د اسلامی بیانونو چی علمی او ایمانی وی دهغی اوریدل

۷دهغی لپاره داسی ملګری ښځی کتل چی دینداره وی او د هغی سره خورولی پالی او دهغوی سره ددین خبری او دینی مجلسونه کوی

۸ د هغی نه شر دفع کول او هغه پدی باندی چی د بداخلاقه ښځو او هغه ځایونو څخه هغه لری وساتل شی چی د شر وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کور کي د ايمانياتو اهتمام کول

۳ خپل کور د الله د ذکر ځاي وګرځوه

د ابو موسى رضي الله عنه نه روايت دی " مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِي يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ وَالْبَيْتِ الَّذِي لَا يُذْكَرُ فِيهِ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ (1)"

رسول الله ﷺ فرمايي:((د هغه کور مثال چي د الله ذکر پکي کيږي او د هغه کور چي د الله ذکر پکي نه کيږي د دی دواړو مثال د مړي او ژوندي دی))

نو بايد کورنه د الله د ذکر د ټولو اقسامو ځاي جوړ کړی شي برابره ده که زړه ذکر وي او که په ژبه د مونځ په شکل کي وي او که د قران لوستو د علم مذاکره په شکل کي وي او که د مختلفو ديني کتابونو د لوستلو په شکل کي

ليکن افسوس دی چي نن دمسلمانانو بيشماره کورونه د الله د ذکر نه کولو په وجه مړه دي لکه چي حديث کي تير شو او په هغي کي د شيطان اوازونه او ګاني بجاني غيبت بهتان او چغل خوري په کثرت سره موجود دي

او نن صبا د کورونو دا حال دي چي هغه په منکراتو او د الله په نافرمانيانو باندي ډک دي لکه حرام اختلاط د ښځو ډولونه ښکاره کول او د ګاونډيانو غير محارمو د يو بل سره ناسته پاسته

نو څنګه به فرشتي داسي کورونو ته داخلي شي چي دا يي حال وي نو ای مسلمانانو وروڼو خپل کورونه د الله په ذکر باندي اباد کړی

---

(1).رواه مسلم في صحيحه (977)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ د خپلو کورونو نه قبله جوړه کړئ

مطلب دا چي د خپلو کورونو څخه د عبادت ځایونه جوړ کړئ

الله تعالی فرمایي((وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّآ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا وَاجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ)) (یونس: 78)

((مونږ موسی او هارون ته وحي وکړه چي د خپل قوم لپاره په مصر کي کورونه جوړ کړي او خپل کورونه قبله وګرځوي مونځ قایم کړي او مومنانو ته زیری ورکړه))

ابن عباس رضي الله عنهما ددي ایت په تفسیر کي لیکي چي هغوئ ته حکم شوی وو چي خپلو کورونو کي مساجد جوړ کړي

ابن کثیر رحمه الله فرمایي دا حکم ورته هغه وخت شوی وو چي هغوی باندي د فرعون او د هغه دقوم له طرفه امتحانونه ډیر شو نو هغوئ ته حکم وشو چي کثرت سره مونځونه کوئ والله اعلم(1)

لکه څنګه چی الله تعالی فرمایلي دي

وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ)) البقرة (45)

ای د ایمان والاو د الله تعالی نه د مونځ او صبر په ذریعه سره مدد وغواړئ بیشکه الله تعالی د صبر کونکو ملګری دی

او په حدیث کي راځي د حذیفه رضي الله عنه نه روایت د ی(کان النبي صلی الله علیه وسلم إذا حزبه أمرٌ صلى)(2)

نبی علیه السلام ته چي به کله په کوم کار کي مشکل راغلي نو مونځ به یي کوو

---

(1)تفسیر الطبري 11 ,153(2)رواه احمد 22210

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دي نه دا معلوميږي چي کورونو کي دالله د عبادت کولو ډير اهميت دي خاص طور باندي کله چي د پريشانۍ او کمزورۍ حالت وي او دغه شان په هغه حالاتو کي چي مسلمانانو باندي داسي وخت راشي چي د کفارو مخامخ مونځ نشي ادا کولي او مونږ بايد پدي مقام کي د مريم عليها السلام د محراب تذکره هم وکړو هغه چي الله تعالی يي په قران کي پدي ډول ذکر کړی دی

((كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا ۖ قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا ۖ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ ۖ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ) ال عمران(37)

((هر کله چی به زکريا په هغی باندی داخل شو چی محراب کی به ناسته وه نو وبه يی ليدل چی د هغی مخی ته رزق او خوراک پروت دی))

او صحابه کرامو به د فرض مونځ نه علاوه د نفل مونځ په کور کی ډير اهتمام کوو

او دی باره کی يو حديث په لاندی ډول دی

د محمود بن الربيع نه روايت دی((أن عِتبانَ بنَ مالكٍ . وكان من أصحابِ النبيِّ صلى الله عليه وسلم . ممن شَهِدَ بدرًا من الأنصارِ : أنه أتى رسولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فقال : يا رسولَ اللهِ . إني أنكَرْتُ بصري . وأنا أصلِّي لقومي . فإذا كانت الأمطارُ سال الوادي الذي بيني وبينَهم . لم أستَطِعْ أن آتيَ مسجدَهم لأصلِّيَ لهم . فوددْتُ يا رسولَ اللهِ . أنك تأتي فتُصَلِّيَ في بيتي، فأتَّخِذُه مُصَلَّى . فقال: سأفعَلُ إن شاءَ اللهُ . قال عِتبانُ : فغدا رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وأبو بكرٍ حين ارتفَعَ النهارُ . فاستأذَنَ النبيُّ صلى الله عليه وسلم فأذِنتُ له . فلم يَجلِسْ حتى دخَلَ البيتَ . ثم قال لي: أين تُحِبُّ أن أصَلِّيَ من بيتِك ؟ فأشَرْتُ إلى ناحيةٍ من البيتِ . فقام النبيُّ صلى الله عليه وسلم فكَبَّرَ، فصَفَفْنَا . فصلَّى ركعتين ثم سلَّمَ ،(1)

---

(1) رواه البخاري (524)

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی عتبان بن مالک چی د نبی علیه السلام صحابی دی او د انصارو د طرفه د بدر غزوه کی هم حاضر شوی وو هغه یو ورځ رسول الله ته راغلی او ویی فرمایل ای دالله رسوله زما نظر کمزوری شوی دی او زه خپل قوم ته مسجد کی مونځ ورکوم نو کله چی باران وشی زه د اوبو او خوړ د وجی مسجد ته نشم تلی چی خپل قوم لپاره امامت وکړم نو زه دا خوښه گنړم چی ته زما کور ته راشی او په هغی کی مونځ وکړی نو زه به هغه د مونځ لپاره ځای وگرځوم

نو نبی کریم صلی الله علیه وسم وفرماییل ان شاءالله زه به دا کار وکړم

عتبان فرمایی نبی علیه السلام او ابو بکر په داسی وخت کی راغلی چی نمر راختلی وو نو نبی علیه السلام زما نه اجازت وغوښتو ما ورته اجازت وکه او هغه دکیناستو نه مخکی ماته وویل چی کومه کمره کی مونځ کول غواړی ما د کوټی یو جانب ته اشاره وکړه نو نبی علیه السلام هغی کی ودریده او الله اکبر یی ووایه مونږ هم صفونه جوړ کړل نو نبی علیه السلام دوه رکعته مونځ وکه او سلام یی وگرځوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ د کور دخلکو ایمانی تربیت کول

عایشه رضی الله عنها فرمایی ((كان رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يصلي من الليل فإذا أوتر قال : قومي))(1)

رسول الله ﷺ به دشپې مونځ کوو چې کله به یې وتر وکړل نو ماته به یې اواز وکه ای عایشې پاڅه وتر وکړه

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی((رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ . فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ . رَحِمَ اللَّهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ وَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا . فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ)) (2)

چې رسول الله ﷺ فرمایی الله دی په هغه کس باندی رحم وکړی چې د شپی راپاڅیږی او مونځ کوی او خپله ښځه هم راپاڅوی هغه هم مونځ کوی لیکن که چیرته هغه د پاڅیدو نه انکار وکړی نو دا دهغی په مخ باندی د اوبو داری وکړی او دغه شان الله د ی په هغه ښځه رحم وکړی چې دشپې مونځ کوی او خپل خاوند هم راپاڅوی که هغه نه راپاڅیږی نو مخ ته ورله داوبو داری وکړی

او زنانه وو ته د صدقې ترغیب ورکول دهغوی په ایمان کی زیادت پیدا کوی او دا یو عظیم عمل دی نبی علیه السلام یی ترغیب ورکړی دی

هغه فرمایی((یا معشر النساء تصدقن)) (3)

---

(1) .رواه مسلم (447). (2) أبو داود (8031) (3) متفق عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د زنانه و جماعت تاسو صدقی وکړی ځکه ماته تاسو راښودلی شوی یی چی اکثر جهنم ته روانی یی

او د خه سوچ څخه دا هم ده چی کور کی یو صندق کیخودی شی او د غریبانانو لپاره په هغی کی پیسی جمع کولی شی نو څه پیسی چی هغی کی جمع کیږی په هغی به د غریبانانو کار کیږی

او باید کور کی یو داسی څوک وی چی نفلی روژی لکه د ایام بیض عرفه تاسوعا عاشورا شعبان او محرم روژی نیولو اهتمام کوی نو د کور نور خلک به هم دهغه سره ملګرتیا کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ په شرعي اذکارو او هغه نفلي مونځونو باندي اهتمام کول چي کور کی ادا کولی شي

او ددي ٍ د مثالونو څخه

کور ته د ننوتو اذکار

امام مسلم په خپل کتاب کي د جابر بن عبدالله په حوالی سره روایت کوی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی

. ((" إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ فَذَكَرَ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ , قَالَ الشَّيْطَانُ : لا مَبِيتَ لَكُمْ وَلا عَشَاءَ . وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ , قَالَ الشَّيْطَانُ : أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ . وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ عِنْدَ طَعَامِهِ , قَالَ : أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ ")) (1)

((کله چي يو مسلمان کور ته داخل شي او دالله نوم ياد کړي نو شيطان خپلو ملګرو ته ووايي نن ستاسو لپاره دلته خوراک او شپه تيرول نشته او کله چي د اخل شي ليکن دالله نوم ياد نه کړي نو شيطان ووايي تاسو لپاره د اوده کيدو ځاي ميلاو شو او کله چي د خوراک په وخت کي بسم الله ونه وايي نو شيطان ووايي تاسو د پاره خوراک ميلاو شو))

---

(1) مسلم8102

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کور نه د وتلو په وخت کي اذکار

امام ابو داود په خپل کتاب کي د انس بن مالک رضي الله عنه په حوالي سره روايت کوي رسول الله ﷺ فرمايي((مَنْ قَالَ يعنِي إذا خَرَج مِنْ بيتِهِ : بِسْمِ اللهِ توكَّلْتُ علَى اللهِ . ولا حولَ ولا قوةَ إلاَّ بِاللهِ . يقالُ لهُ هُدِيتَ وَكُفِيت ووُقِيتَ . وتنحَّى عنه الشَّيْطَانُ »))(1)

((کله چي يو کس د کور نه وتلو په وخت دا ووايي دالله په نوم سره زه ووزم او په الله باندي مي توکل کړی دی د ګناه نه پڅ کول او د عبادت توفيق ورکول صرف د الله په لاس کي دی

نو نبی عليه السلام فرمايي د ي وخت کي به ديته وويل شي تاته هدايت وشو او الله ستا کافي شو ستا حفاظت وکړی شو نو بعضی شيطانان به هغه پسي شي يو شيطان به ورته ووايي تاسو هغه چا ته ضرر نشئ ورکولي چي هغه ته هدايت وشو او الله يي کافي شو او د هغه حفاظت وکړی شو))

<u>مسوال وهل</u>

د عائشي رضي الله عنها نه روايت دی

((قالت : " كان إذا دخل بيته بدأ بالسواك"))(2)

چي نبي عليه السلام به کله کور ته داخل شو نو مسواک به يي وهه

---

(1) رواه أبو داود (5905)، وصححه الألباني في صحيح أبي داود. (2) رواه مسلم (44)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ دشیطان شړلو لپاره په کور کي سورت بقره بار بار لوستل

او دي باره کي بیشماره احادیث وارد دي چي بعضي په لاندي ډول دي

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله فرمايي ((**لا تجعلوا بيوتكم مقابر إن الشيطان ينفر من البيت الذي تقرأ فيه سورة البقرة.**))(1)

((د خپلو کورونو نه مقبري مه جوړوی بیشکه شیطان دهغه کور نه تښتي چي هغي کي سورت بقره لوستلي کیږي))

او بل حدیث کي دي رسول الله فرمایي په خپلو کورونو کي سورت بقره لولی ځکه شیطان هغه کورته نشي ننوتی چي هغي کي سورت بقرة لوستلي کیږي

او ددي سورت داخیري دوه ایتونو د فضل او په کور باندي د هغي اثر باره کي رسول الله ﷺ فرمایي (**إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفَيْ عَامٍ . أَنزَلَ مِنْهُ آيَتَيْنِ خَتَمَ بِهِمَا سُورَةَ الْبَقَرَةِ . وَلَا يُقْرَآنِ فِي دَارٍ ثَلَاثَ لَيَالٍ فَيَقْرَبُهَا شَيْطَانٌ**)(2)

الله تعالی د اسمانونو او ځمکو د پیدایش نه دوه زره کاله مخکي یو کتاب لیکلی وو او د هغي نه يي دوه ایتونه نازل کړي چي ددي سورت په اخیر کي دي دا چي کوم کور کي دري شپي ولوستي شي هغي ته شیطان نشي راتلی

---

(1) رواه مسلم 1 ,539(2) رواه الحاكم في المستدرك (165/1

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کور کی علم شرعی

8

د کور خلکو ته تعلیم ورکول

د کور خلکو ته تعلیم ورکول یوه فریضه ده باید د کور مالک ددي اهتمام وکړي دي دپاره چي د الله ددي قول تابعداري وشي

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ))

(التحریم:6)

او دا ایت اصل دی په باره د تعلیم د اهل کي د هغوی په تربیت او هغوی ته د نیکی حکم او د بدی نه منع کولو باره کي

او اوس زه هغه اقوال ذکر کوم چي مفسرینو ددي ایت په تفسیر کي ذکر کړي دیی چي هغي نه هغه څه معلوم شي چي د کور مالک له په هغي باندي اهتمام پکار دی

قتاده فرمايي د کور مالک به د کور خلکو ته د الله د طاعت حکم کوي او دهغه د نافرمانی نه به يي منع کوي او هغوی سره به ددین په کارونو کي مدد کوي

ضحاک او مقاتل فرمايي

په هر مسلمان باندي لازم دي چي خپلو رشته دارانو ته د هغه څه تعليم ورکړي چي الله پري حکم کړی دی یا تري هغه منع کړي

او علي رضي الله عنه فرمايي: ((دوی ته تعليم او ادب ورکړی))(1)

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام طبري فرمايي: مونږ له پکار دي چي خپلو اولادو او اهل له ددين او خير تعليم وركړو او هغه ضروري ادب ورته وښاييو چي د هغي نه يي چاره نشته(2)

او كله چي رسول الله ﷺ د غلامانو او وينزو د تعليم ترغيب وركړى دى نو د ستا اولاد او اهل خو پدي ترغيب كي بالاولى داخليږى

امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح كي باب تړلى

((باب تعليم الرجل أمته وأهله))(3)

((باب دى په باره د تعليم د سړي كي خپل اهل او وينزي ته))

بيا يي په باب كي د نبى عليه السلام دا حديث ذكر كړى دى ((ورجل كانت عنده أمة يطؤها فأدبها فأحسن أدبها وعلمها فأحسن تعليمها ثم أعتقها فتزوجها فله أجران))

((ددرى كسانو لپاره دوه اجره دي

او يو هغه كس چي دهغه په ملكيت كى وينزه وي نو هغه ورله ادب وركړي او ښه ادب وركړي او تعليم ورله وركړي په ښه طريقه باندي بيا يي ازاده كړي او واده ورسره وكړي نو دهغه لپاره دوه اجره دي))

امام ابن حجر ددي حديث په شرح كي ليكي ددي حديث مطابقت د باب سره د وينزي باره كي صريح او نصا دى ليكن د اهل باره كي مطابقت په طريقه دقياس سره دى ځكه ازاد اهل او اولاد ته د الله دفرايضو او درسول الله دسنتو تعليم او تربيت وركول د وينزو د تعليم نه ډير ضروري دى(4)

---

(1)شعب الايمان 8182(2)احكام القران 5.31(3)البخاري 97(4)فتح الباري 1,190

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله انسان د خپلو مشاغلو او مصروفیاتو د وجي ددي فریضي څخه غافل وي لیکن ددي حل دادي چي د هغوی لپاره یو ورځ مقرره کړي چي هغي کي یو مجلس قایموي او خپل اهل او نورو رشته دارانو ته تعلیم ورکوي

او دي باره د رسول الله ﷺ طریقه ملاحظه کړئ

امام بخاري رحمه الله فرمایي:((باب هل یجعل للنساء یوم علی حده فی العلم))

ترجمه: ایا د ښځو لپاره یوه ورځ د تعلیم په غرض خاص کولی شي

او پدي کي یي دابو سعید رضي الله عنه په حوالي سره حدیث نقل کړی

یا رسولَ الله، غلَبَنا علیک الرجال، فاستأثروا بک، وذهَبوا بحدیثِک، فاختَرْ لنا یومًا من تلقاءِ نفسِک نأتیک فیه، فتَعِظُنا بمَواعظِ الله، وتُعلِّمنا ممّا علمک اللهُ، فقال: ((موعدکنَّ بیتُ فلانة، یوم کذا وکذا))(1)

((چي رسول الله صلی الله علیه السلام ته زنانه و شکایت وکه چي په تاباندي زمونږ په مقابله کي سړي غالب شول نو مونږ دپاره یوه ورځ وټاکه هغه ورسره د یوي ورځي وعده وکړه هغي کي ورسره میلاو شو او وعظ ورته وکه او په نیکو کارونو امر یي ورته وکه))

امام ابن حجر مزید فرمایي: او د سهیل بن ابي صالح عن ابیه عن ابي هریره په سند سره همدا قصه روایت ده او هغي کي دا الفاظ دي

((ستاسو لپاره ټاکلی شوی ځاي دفلانی ښځي کور دی نو همدغه کور ته بیا رسول الله ورغلي او هغوی ته یي حدیث بیان کړل))

او ددي حدیث نه د زنانه په تعلیم باندي حرص معلومیږي او دا هم ترینه معلومیږي چي د صحابه ښځي به په تعلم ددین باندي څومره حرصناکي وي

---

(1)البخاري :101

(c) ketabton.com: The Digital Library

او صرف سړو ته دين بيانول د داعيانو ددين او دمالکانو دکورونو يو لوي تقصير دی

ليکن کيداي شي بعضي لوستونکي دا سوال وکړي چي فرض کړه مونږ د زنانه لپاره يو وخت مقرر که او هغوی ته مو خبر ورکه چي پدي ورځ د تعليم لپاره راجمع شی نو پدي جلسو د علم کي به مونږ هغوی ته څه شی وړاندي کوو او په څه باندي به شروع کوو

نو ددي په جواب کي زه تاته يوه مشوره درکوم چي هغه به ستا لپاره يو منهج وي ته به پري چليږي په ميدان د تدريس د اهل ستا کي په عام طور سره او د زنانه په تعليم کي خاص طور سره

تفسير د علامه السعدي رحمه الله چي نوميږي په ((تيسير الکريم الرحمان في تفسير کلام المنان))

دا يو اسان تفسير دی چی په اسان اسلوب اوطريقه باندي ليکلی شوی دی ددي نه ته هغوی ته يو يو ايت تعليم کوه

رياض الصالحين ددي کتاب بعضي احاديث ورته شرح کوه او ددغه احاديثو نه چي کوم فوايد معلوميږي هغه ورته بيانوه

او ددي يعني د هر حديث فايدي او دهغي د شرح لپاره بايد ته((نزهه المتقين)) نوم باندي يو کتاب دی هغي ته رجوع وکړي

((حسن الاسوة بما ثبت عن الله ورسوله في النسوة))

داکتاب دعلامه صديق حسن خان دی

دغه شان دا هم ضروري ده چي ته ښځو ته بعضي فقهي احکام ورزده کړي لکه احکام د طهارت د وينو مونځ زکات روژي حج د خوراک څښاک لباس زينت د فطرت احکام د محارمو باره کي احکام د ګاني بجاني او تصويرونو احکام وغيره

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ددى احکامو مهم مصادر د اهل علمو فتاوى جات دي لکه فتاوى د الشيخ ابن باز او ابن العثيمين او نورو علماء کرامو

برابره ده که هغه په ليکلو کي وي يا په ريکارډ او کيسټو کي وي

او دښځي او اهل بيتو د تعليم په جدول او تقسيم اوقات کي دا هم راځي چي هغوئ ته ترغيب ورکړى شي چي دعلماء يا طالب علمانو په درسونو کي چي کومو کي حاضريدل ورله ممکن وي حاضري شي

او پدي سلسله کي بايد د قران راديو درسونو ته هم غوږ نيسي

او بايد دکور مالک دي خپلي زنانه د اسلامى کتابونو ميلي ته هم بوزي ليکن پدي شرط چي شرعي شروط پکي موجود وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ پخپل کور کي يوه اسلامی مکتبه جوړه کړه

په کور کي مکتبه جوړول د هغه شيانو څخه ده چي په تعليم د کور والاو کي مدد ورکوي او هغوئ ته په دين باندي دپوهي فرصت ورکوي او هغوئ سره پدي کي مدد کوي چي د شريعت په احکامو باندي عمل وکړي

او ضروري نده چي دا مکتبه دي ډيره غټه وي بلکي ضروري داده چي پدي کي مهم کتابونه کيخودلی شي

او هغه په داسی ځاي کي کيخودلی شي چي راغستل يي هر چا لپاره اسان او ممکن وي او د کور خلکو ته ترغيب ورکول چي کتابونه ولولي

او بايد د مکتبي لپاره ځاي مناسب پاک او داسي ځاي وي چي هغه کي خلک خوب کوي يا د ميلمنو کمره وي دي لپاره چي هر فرد وکولی شي چي په استمرار سره کتاب مطالعه کړي

او دمکتبی مضبوطوالی پدي کي دی چي هغه پداسي کتابونو باندي مشتمله وي چي مختلف مسائل پکي بيان شوي وي او ماشومانو لره هم مفيد وي په خپلو سبقونو د مدرسه کي او بايد مکتبه پداسي کتابونو باندي مشتمله وي چي د هر مستوی برابر وي چي ماشومان او غټان زنانه او سړي ترينه يو شان استفاده وکړي

او بايد څه داسي کتابونه دي پکي هم کيږدي چي د ميلمنو لپاره يي هديه کي ورکوي يا د ماشومانو ملګرو او هغه کسانو ته په طور د تحفه ورکوي چي د هغه کور ته راځي سره ددي چي د هغي چاپ اعلی او محقق وي او احاديث پکي تخريج کړی شوي وي او کله چي يو کس مکتبه جوړول غواړي نو بايد د هغه کسانو سر ه دي مشوره وکړي چي د کتابونو د پيشی په ميلو کي کار کوي او پدي باب کي دهغوئ د مشورو او اقتراحاتو نه استفاده کول پکار دي

او د يو کتاب په اسانی سره پيدا کولو لپاره پکار د ی چي مکتبی ته د موضوعاتو مطابق ترتيب ورکړی شی لکه د تفسير کتابونه په يوه خاص خانه کی کيخودلی شی د حديث کتابونه په بله کی او د فقهی په بله کی او دغه شان نور او دکور يو کس

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید دمکتبی فهرس جوړ کړی چی الف بایی ترتیب لری دی لپاره چی کتاب تالاش کول اسان وی

او ډیر کله بعض خلک چي د کتابونو شوقیان وي هغوئ تپوس کوي په باره د نومونو د اسلامي کتابونو کي دي وجي نه زه غواړم چي د بعضي مفید کتابونو نومونه په لاندي ډول ذکر کړم

په تفسیر کي :تفسیر ابن کثیر ۲ تفسیر ابن السعدی ۳ زبده التفسیر د الاشقر ۴ بدایع التفسیر د ابن القیم ۵ اصول التفسیر دابن العثیمین ۶ لمحات في علوم القران د محمد صباغ

په حدیث کي :صحیح الکلم الطیب ، عمل المسلم فی الیوم واللیله یا الصحیح المسند من اذکار الیوم واللیله، ریاض الصالحین او د هغي شرح ((نزهه المتقین))

مختصر صحیح البخاري دالزبیدي، مختصر صحیح مسلم دامام منذري، صحیح الجامع الصغیر او ضعیف الجامع الصغیر، صحیح ترغیب او ترهیب ،السنه ومکانتها فی التشریع، قواعد وفواید من الاربعین النوویه لناظم سلطان

په عقیده کي : فتح المجید شرح کتاب التوحید سره د تحقیق د شیخ شعیب الارنووط ، ۲ اعلام السنة المنشوره، ۳ شرح العقیده الطحاویه سره د تحقیق د شیخ البانی ۴ سلسله العقیده د شیخ سلیمان الاشقر، ۵ اشراط الساعه د یوسف وابل.

په فقه کي : منار السبیل دابن ضویان سره د ارواء الغلیل د شیخ الباني ۲ زاد المعاد لابن القیم ۳ المغني لابن قدامه ۴ فقه السنه ۵ الملخص الفقهي د شیخ صالح فوزان ۶ مجموع فتاوی د ابن باز عثیمین او ابن جبرین

۷ صفة صلاة النبي ﷺ د شیخ الباني او ابن باز ۸ مختصر احکام الجنائز دشیخ الباني

په اخلاق اوتزکیه د نفسونو کي :۱ تهذیب مدارج السالکین ۲ الفواید ۳ الجواب الکافي ۴ طریق الهجرتین ۵ باب السعادتین ۶ الوابل الصیب ورافع الکلم الطیب د ابن القیم لطائف المعارف دابن رجب تهذیب موعظه المؤمنین غذا الالباب

په سیرت او تاریخ کي :البدایه والنهایه دابن کثیر ۲ سیر اعلام النبلا د ذهبي

مختصر الشمائل المحمدیه د ترمذي کتاب چي شیخ الباني مختصر کړی دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

العواصم من القواصم د ابن العربي، الرحيق المختوم دا مباركفوري، المجتمع المدني د اكرم عمري ،منهج كتابةالتاريخ الاسلامي د محمد بن صامل السلمى

دغه شان نور كتابونه هم شته په مختلفو علومو كي چي هغي نه كتابونه د شيخ عبدالوهاب دي دشيخ ناصر السعدي د عمر ابن سليمان الاشقر د محمد مقدم د استاذ محمد حسين كتابونه د شيخ جميل زينو، كتابونه د شيخ حسين العوايشيه كتاب الايمان د محمد نعيم ياسين، الولا والبراء د شيخ سعيد القحطاني ،كتاب الانحرافات العقديه في القرني الثاني عشر والثالث عشر دعلي بن بخيت، المسلمون وظاهرة الهزيمة النفسية د عبدالله الشبانه ،او كتاب المرأة بين الفقه والقانون د السباعى او الاسره المسلمه أمام الفيديو والتلفيزيون مروان كجك أو المرأة المسلمة اعداداتها ومسولياتها د احمد ابا بطين او مسؤولية الأب المسلم في تربية ولده دأبو حارث عدنان حجاب المسلمة د احمد البرازي ،كتاب((وجاء دور المجوس)) دعبدالله الغريب

كتابونه دشيخ بكر ابو زيد او بحثونه دشيخ مشهور حسن

او ددي نه علاوه نور هم بيشماره كتابونه شته دا ترينه مونږ د مثال په طور ذكر كړل او د ټولو نومونه ذكر كول دلته مقصود ندي

او هر مسلمان لره پكار دي چي د كتاب په انتخاب كي فكر او مشوروه وكړي

او چا باندي چي الله د خير اراده وكړه هغه له په علم باندي فقاهت وركوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

10

په کور کی یوه صوتی مکتبه جوړول

نن صبا تقريبا په هر كور كي د كيسټ يا سی ډي د چلولو لپاره وسائل او الات شته او دا شيان په خير او شر دواړو كي استعمالولی شي نو څنګه مونږ بايد دا دالله په رضا كي استعمال كړو؟

ددي مقصد د پوره كولو لپاره بايد په كور كي يوه صوتي مكتبه جوړه كړو چي هغه د علماء، قاريانو ،واعظانو ددرسونو په كيسټو او ريكاردونو باندي مشتمله وي

او پدی كي هيڅ شک نشته چي د بعضي قراءو تلاوتونه اوريدل خاص طور سره كوم تلاوتونه چي د تراويح مونځ کی شوي وي د هغي د كور په خلكو باندي ډير غټ تاثير وي پدي جهت چي هغوی به د قران د معنو نه اثر اخلي او د بار بار اوريدو په وجه به اكثر اياتونو ورته په يادو هم ياديږي دغه شان ددي په اوريدو به د شيطاني ګانو بجانو نه محفوظ وي ځكه په كومو غوږونو او سينو كي چي قران وي هغي كي شيطاني اوازونو لپاره ځاي نه وي

او د كور دخلكو په دين باندي په پوهه او دهغه مسايلو باره كي علم چي هغوی ته ورځ په ورځ پيښيږِي پدي ټولو كي د كيسټو او درسونو اوريدلو ډير غټ لاس دي

نو پدي سلسله كي زه دا مشوره وركوم چي د علماء فتاوی جات واوريدل شي لكه دشيخ الباني شيخ ابن باز ابن عثيمين او شيخ صالح فوزان او نور داسي علماء چي هغوی په ديندارۍ باندي مشهور وي

او ټولو مسلمانانو له پدي باب كي احتياط پكار دی چي هغوی د چا نه فتوی اخلي ځكه دا دين دی نو تاسو بايد وګورئ چی د چا نه دين زده كوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو فتوی به د هغه چا نه اخلی چی د هغه علم تقوی او ورع معلومه وي او هغه په صحیح احادیثو باندي اعتماد لري د تعصب نه پاک وي

او ددلیل سره ګرځي نه متشدد وي او نه د ډیر تساهل نه کار اخلي

او دهغه علماء اوریدل چي د امت د فلاح لپاره کار کوي ددلیل مطابق خبره کوي او د بدئ نه خلک منع کوي په یو مسلمان کور کي د یو شخصیت جوړولو کي ډیر اهم رول ادا کوي

کیستي بیشماره دي او دین بیانونکي هم ډیر دي لیکن مسلمان لره پکار دي چي د صحیح منهج صفات وپیژني او بیا د هغه بیانونکي بیان اوري چي هغي کي د حق نښی او د صحیح منهج صفات موجود وي

او د صحیح دعوت کونکي صفتونه بعضي په لاندی ډول دي

۱ د هغه عقیده باید د فرقه ناجیه او اهل سنت والجماعت وي د سنت تابعدار او د بدعت سره نفرت کونکی وي په خپل منهج کي معتدل وي نه به ډیر سخت او نه ډیر متساهل وي

۲ هغه باید په صحیح احادیثو باندي استدلال کوي او دضعیف او موضوع احادیثو نه اجتناب کوي

۳ هغه باید د امت او خلکو په حال باندي بصیرت لرونکی وي او د حال مطابق د هغوئ مسایل حل کوی او دهر مرض لپاره مناسبه دوا ورکوی خلکو ته هغه څه بیانوي چي هغوئ ورته حاجت لري

۵ هغه باید د حق وینا کوي او دخلکو رضا نه لټوي بلکي هر څه د الله د رضا لپاره بیانوي اګر که خلک ناراضه کیږي

دغه شان مونږ وینو چي د کیسټو او اډیو بیانونو او تلاوتونو په ماشومانو باندي ډیر اثر پریوزي ماشومان دهغي نه د قران ډیر سورتونه دورځی او شپی اذکار حفظ کوي او د هغي نه اسلامي اداب هم زده کوي

او دا خبره هم یاد ساتل پکار دی چي کیسټي باید په کور کي په مرتب شکل سره کیخودی شي چي د هغي راغستل هم اسان وي او د ماشومانو دوجي ضایع هم نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او باید مونږ څه کیستي خپلو دوستانو ته هدیه کړو یا یي هغوی ته د یوځو ورځو لپاره اعارتا ورکړو

او باید د پخلي په ځای کي د خوب په کوټه کي یو ټیپ پروت وي چي زنانه د خپلو کارونو په وخت کي د هغي نه اسلامي بیانونه اوري او استفاده ترینه اخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

11 نیکانو خلکو او طلبه و د علم ته د خپل کور د زیارت کولو د عوت ورکول

((رَبِّ اغفِرْ لِي وَلِوالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِناً وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِناتِ وَلا تَزِدِ الظّالِمِينَ إِلاّ تَباراً))سورة نوح (28)

((ای ربه: زما او زما مور او پلار ته بخشش وکړه او هغه چاته چي دايمان په حالت کي زما کورته داخليږي او ټولو مومنانو او مومناتو ته او ظالمانو لره مه زياتوه مگر هلاکت))

د ايمان والاو يو کور ته داخليدل د هغه کور رڼا زياتوي او دهغوی د خبرو د هغوی سره بحث مباحثه او د هغوی نه پوښتني کولو په وجه ډيري فايدي حاصليږي

ځکه د عطرو والا سړی به يا تاته عطر هديه کوي يا به يی ترينه په پيسو باندي اخلي او يا به دهغه د طرفه د هغي خوشبو محسوسوي

او دهغوی سره خپل ماشومان پلار ورونه او زنانه د پردي نه شاته کينول د هغوی په تربيت کي اضافه کوي

او ته چي کله خپل کور ته خير داخل کړي نو ستا کور به د شر نه محفوظ وي او د ويجاړيدو نه به په امن وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲ دکورونو متعلق د بعضی شرعي احکاماتو زده کړه

ددی ښځه د تولو نه مخکي

پہ کور کی مونځ کول دي

هر چي سړی دی نو هغه باره کي نبی کریم ﷺ فرمايي: ((فَإِنَّ أَفْضَلَ صَلَاةِ المرء في بيته إلا الصلاة الْمَكْتُوبَةَ".))(1)

((د سړي لپاره بهتر مونځ هغه دی چي کور کي يې ادا کړي مګر فرض مونځ چي هغه به مسجد کي ادا کوي))

نو تاباندي واجب ده چي مسجد کي مونځ وکړي مګر د عذر د وجي که درنه پاتي شي او کور کي يې وکړي نو خير دی

او هر چي ښځي دي نو د هغو لپاره په هغه ځاي کي مونځ کول بهتر دی چي هغه ډیر پردي والا وي

نبی علیه السلام فرمايي:

((بهترين مونځ دښځي د هغي د کوټی په جور ځاي کي دی یعنی پټ ځاي کي)

---

(1) رواه البخاري (137)

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید میلمه د چا په کور کې امامت یا د دهغه په ځای باندي د ناستي نه اجتناب وکړي مګر که هغه ورته اجازت ورکړي

نبی کریم ﷺ فرمایي:((**ولا یؤم رجل رجلا في سلطانه ولا في أهله ولا یجلس علی تكرمته إلا بإذنه.**))(1)

((یو کس دي پټاسو کې د چا په ملکیت یا کور کې امامتي نه ورکوي او د هغه د عزت په ځاي دي هم نه کیني مګر که هغه اجازت وکړي))

یعني د یو کور والا یا د مسجد د امام په ځاي باندي به امامتي نه ورکوي اګر که دا میلمه د هغه نه ښه قاري وي

دغه شان د یو کس لپاره جایز ندي چي د کوربه په یو خاص ځاي یا د هغه په کټ کي کیني مګر د هغه په اجازت سره

---

(1) رواه مسلم (376).

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازت غوښتل

((يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتاً غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (27) فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَداً فَلا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ (28) لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتاً غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ (29)))

((اى مومنانو د خپلو كورونو نه علاوه نورو كورونو ته مه داخليږى تر هغه چى تاسو د كور والا نه اجازت او په هغوى باندى سلام نه وى اچولى دا ستاتو لپاره بهتره دى كه چيرته تاسو د فكر نه كار اخلى

كه چيرته تاسو پدغه كورونو كى څوك مونده نه كړى نو هغى ته مه ننوځى تردى چى تاسو ته اجازه وشى او كه تاسو ته وويل شى چى واپس شى نو واپس شى دا ستاسو لپاره ډير پاكونكى دى او الله تعالى پوهه دى په هغه عملونو چى تاسو يى كوى))

دغه شان فرمايى**((وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا))**(البقرة 189)

((كورونه ته ددروازو نه راځى))

((هغه ځاى ته بغير داجازت نه ننوتل جايز دى چى ستا سامان پكى پروت وى او دغه ځاى دميلمنو لپاره خاص وى كله چى هلته څوك نه وى

((لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَكُمْ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ))النور 30

((تاسو باندى څه ګناه نشته چى هغه كورونو ته ننوځى چى خالى دى او هغى كى ستاسو سامان پروت وى او الله تعالى پوهه دى په هغه څه چى تاسو يى ښكاره كوى او تاسو يى پټوى))

د رشته دارانو او ملګرو كورونو كى د څه شى خوړلو كى تكلف ندى پكار كله چى هغوى دا بد نه ګڼړى

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه شان د رشته دار یا ملګری هغه کور نه خوراک کول چی تاته یی چاپی درکړی وی او خپله کور کی نه وی

((لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى أَنفُسِكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا مِنْ بُيُوتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَفَاتِحَهُ أَوْ صَدِيقِكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعاً أَوْ أَشْتَاتاً))

((نشته په ړوند باندی څه ګناه نه ګوډ باندی او نه په مریض باندی او تاسو باندی چی تاسو د خپلو کورنو څخه خوراک وکړی یا د کورونو د پلرونو ستاسو یا د کورونو د مورګانو یا د کورونو د وروڼو ستاسو یا د کورنو د خویندو یا دکورونو د ترونو یا دکورونو د تروریانو د مور او پلار د طرفه او یا د کورونو د ماماګانو یا هغه چی تاسو د هغی د چابیانو مالکان وی یا د کور د ملګری ستاسو نشته پتاسو باندی ګناه چی یو ځای خوراک وکړی یا بیل بیل))

خپلو ماشومانو او خادمانو ته حکم کول چی د خوب په وختونو کی دمور او پلار کمری ته بغیر د اجازت نه نه ننوځی

مخکي د سحر مونځ نه او د قیلولی په وخت او د ماښوستن نه پس

دا ددی وجی نه چی د هغوی سترګی به په غیر مناسب شی باندی ولګی لیکن که هغوی ددی اوقاتو نه علاوه نورو وختونو کی څه شی د غلطی د وجی نه ووینی نو څه حرج نشته ځکه دوی د په کور کی د ګرځیدونکو څخه دی چی منع کول یی نا ممکن دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

((يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِن قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ وَمِن بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَّكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (58))

((ای د ایمان والاو باید تاسو نه دی اجازت وغواړی هغه کسان چی تاسو بی مالکان یی او هغه ماشومان چی بلوغ ته ندی رسیدلی دری مرتبه مخکی د د سحر د مونځ نه او کله چی تاسو خپلی کپړی ګدی د ماسپښنین په وخت او پس د ماښوستن نه دری وختونه دی ستاسو لپاره نشته په تاسو او هغوی باندی ګناه ددی وختونو نه پس دوی پتاسو باندی ګردش کونکی دی بعضی ستاسو په بعضو باندی او دغه شان الله تعالی بیانوی ستاسو لپاره اياتونه او الله تعالی پوهه او حکمتونو والا دی))

د بل چا کور ته د هغه د اجازت نه بغیر سر ورښکاره کول حرام دی

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي

{ من اطلع في بيت قوم بغير إذنهم ففقئوا عينه فلا دية له ولا قصاص }(1)

---

(1) رواه أحمد (7998).

(c) ketabton.com: The Digital Library

((چا چې يو کور ته بغير د اجازت نه سر ورښکاره که او هغوی دده سترګه ړنده کړه نو نه په هغوی باندی ديت شته او نه قصاص))

د کور ځخه د هغی ښځی نه وتل يا ويستل چې طلاق رجعی وته ورکړل شوی او د عدت په وخت کی وی سره ددی چې هغی باندی به خرچه کولی شی

((يا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذا طَلَّقْتُمُ النِّساءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ وَاتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ لا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلا يَخْرُجْنَ إِلاَّ أَنْ يَأْتِينَ بِفاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ لا تَدْرِي لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذلِكَ أَمْراً))

الله تعالی فرمايی ((ای نبی کله چې تاسو ښځو ته طلاق ورکوی نو په عدت کی طلاق ورکوی او عدت حسابوی او دالله نه ويريږی هغوی د کورونو نه مه وباسی او خپله دی هم د کور نه نه وځی مګر که يو زنا ترينه وشی او دا دالله حدونه دی ځوک چې د الله د حدودو نه تجاوز کوی نو يقينا هغه په خپل ځان باندی ظلم وکړه او تاته پته نشته کيدای شی الله تعالی ددی نه پس يو نوی کار وکړی))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شرعي مصلحت د وجې د ښځې سره په کور کې یا د کور نه باهر خبرې بندول

هر چې د هغې په کور کې پریخودل دي نو د هغې دلیل دالله دا قول دی او په بیسترو کې د هغوی نه جدا شي

او هر چې د کور نه باهر د هغوی پریخودل دي نو هغه داسې لکه څنګه چې رسول الله کړی وو چې خپلې بیبیانو سره یې بایکاټ کړی وو او د کور نه باهر یې یوه کمره کې اوسیدل اختیار کړی وو

په کور کې دې ځانله نه ویده کیږي

دابن عمر رضی الله عنه نه روایت(أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ الْوَحْدَةِ أَنْ يَبِيتَ الرَّجُلُ وَحْدَهُ أَوْ يُسَافِرَ وَحْدَهُ)(1)

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځانله والې نه منع کړې ده چې یو کس ځانله ویده شي یا ځانله سفر وکړي

او دا منع ددې وجې نه ده چې په ځانله والې کې ددشمن او غلو د حملې خطره وي د غه شان دبیمارۍ هم خطر وي نو دویم ملګرې دې شیانو کې له تا سره مدد کولې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کور په داسی چت باندی دی نه ویده کیږی چی د هغی دیوالونه نه وی دی لپاره چی ښکته راپرینوزی

نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی((**من بات علی ظهر بیت لیس له حجار فقد برئت منه الذمة**))(2)

څوک چی پداسی چت باندی پریوځی چی چاردیوالی یی نه وی نو د هغه نه ذمه اوچته ده

---

(1) رواه أحمد (0565) (2) رواه أبو دود (1405

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی حدیث شرح په عون معبود کی ده

هغه دا چی کیدای شی دا په خوب کی په ډډه باندی واوړی او کله چی د چت دیوار نه وی چی دا د غورځولو نه منع کړی نو ښکته به راپریوځی او مړ به شی نو دده مرگ به دده په لاس شی او څوک به دده په مرگ کی ملوث نه وی(نو دا مطلب دی ددی چی د هغه نه به ذمه اوچته شی)

نو د هغه مرگ به د چا په ذمه نه وی او دا معنی یی هم کیدای شی چی دده سره به دالله حفاظت نه وی ځکه ده هغه ظاهری اسباب اختیار نه کړل کوم چی الله تعالی پری امر کړی دی

د کور پیشوگان چی د کوم لوخی نه اوبه اوڅکښی یا خوراک وکړی نو د هغوی ددی خوراک یا څښاک په وجه لوخی نه ناولی کیږی

د ابو قتاده رضی الله عنه نه روایت دی((**أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ دَخَلَ فَسَكَبَتْ لَهُ وَضُوءًا فَجَاءَتْ هِرَّةٌ فَشَرِبَتْ مِنْهُ فَأَصْغَى لَهَا الإِنَاءَ حَتَّى شَرِبَتْ قَالَتْ كَبْشَةُ فَرَآنِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ أَتَعْجَبِينَ يَا ابْنَةَ أَخِي فَقُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : "إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ إِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ وَالطَّوَّافَاتِ))(1)**

چی د هغه لپاره داودس اوبه کیخودی شوی پدیکی پیشو د هغه نه اوبه اوڅکښلی نو هغه د همدغه اوبو نه اودس وکه خلکو ورته وویل ای ابو قتاده دی کی خو پیشو خوله ووهله هغه وویل ما د رسول الله ﷺ نه اوردیدلی دی چی پیشو د کور والاو څخه ده او هغه په تاسو باندی د گردش کونکو څخه ده

او په یو بل روایت کی راغلی دی چی پیشو ناولی نده بلکی هغه پتاسو باندی د گردش کونکو څخه ده

---

(1) رواه أحمد في المسند (63622

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کور کې اجتماع ګاني کول (یعنی د مشورې لپاره راټولیدل)

13

د کور د مسایلو باره کې د خبرو اترو لپاره فرصت ورکول

الله تعالی فرمایی« ... وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ ... » سورة الشورى: 38.
(ددوی کار ددوی په مینځ کې مشوره باندی کیږی)

د یو کورنی د کامیابی او خوشګوار ماحول د علاماتو څخه دا همده چې په هغې کې د کورنی مسایلو د حل کولو لپاره یو مناسب وقت مقررېږی او په هغې کې د کورنی افراد کورنی مسایل د بحث لاندی راوړی

او دی کې هیڅ شک نشته چی کوم کس ته چې الله د رعیت مسولیت ورکړی وی هغه اولنی مسوول دی لیکن نورو خلکو ته په کورنی معاملاتو کې د خبری فرصت ورکول خاص طور سره خپلو ماشومانو ته کله چې هغوی لوی شی نو پدی کې د هغوی تربیت وشی چې مسوولیت به څنګه پورته کولی شی او هغوی ددی هم احساس کوی چې زمونږ د ارا څه قیمت شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ددی مثالونو څخه دا دی چی د هغه کارونو متعلق خبره اتره کول چی د حج یا عمری متعلق وی یا د چهوټیانو متعلق یا د رشته دارانو سره د خپلولی متعلق یا د واده او ولیمی باره کی خبری اتری او مشوری یا دعقیقی او یا دیو کور نه بل کور ته د تګ په وخت کی د انتظامی امورو د حل کولو لپاره مشوره کول

او دغه شان نور د خیر کارونو باره کی لکه د کلی د غریبانانو عدد معلومول او هغوی کی خوراک تقسیمول او د هغوی نور مالی مدد کول

دغه شان د کورنی خپل مینځی مسایل بحث کول او د هغی د حل لپاره لاره ایستل

او پدی مقام کی یوی مهمی اجتماع ته باید اشاره وکړم هغه دا چی مور او پلار باید په انفرادی طور سره د خپلو بچیانو سره مشوری وکړی ځکه بعضی مشکلات داسی وی چی د هغی حل په اجتماعی طور سره نه کیږی

د مثال په طور پلار دځوی سره ځانله یو مجلس قایم کړی او هغه سره د ځوانی بلوغت وغیره مسایلو باره کی خبری اتری وکړی

او دغه شان مور دلور سره دغه شان انفرادی ملاقات وکړی او هغی سره د هغی پدی عمر کی پیښ مسایل تبصره کړی

او کله چی مور یا پلار خپل ځوی ته داسی ووای چی کله چی زه ستا په عمر کی وم ددی خبری ډیر غټ اثر وی په هغوی باندی

او دداسی خبرو نه کول په هغوی باندی دا اثر کیږی چی هغوی بیا د بدو او ناکاره ملګرو سره دوستی اختیاروی د کومی نه چی لوی شرونه جوړیږی او په هغی سره معاشره تباه کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

14 د ماشومانو مخي ته د کورنی جگړو اظهار نه کول

ډیر کم داسی کورونه دي چی هغوی د جگړو نه بغیر زندگی تیروی لیکن صلح کول بهتره عمل دی او حق ته رجوع کول غوره دی لیکن د کور سلامتی ته خطره هغه وخت ده چی اختلافات او جگړی د کور والا ته مخی ته شی نو پدیکی په یو کور کی دوه جماعتونه جوړ شی او د کور بیره تباه شی سره ددی چی ددی ډیر بد اثرات په ماشومانو باندی پریځوی

او د دهغه کور به څه حال وی چی هغی کی پلار ځوی ته وایی مور سره دی خبری مه کوه او مور ورته وایی پلار سره دی خبری مه کوه او بچی پدی وخت کی په یو تذبذب کی وی نو باید ددی خلافاتو نه ځان وساتل شی او کله چی واقع شی نو باید مونږ بی د هغوی د نظر نه پټ کړو

الله تعالی دی زمونږ په زړونو کی د یو بل سره محبت واچوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵ د هغه چا کور ته نه پریخودل چی بی دینه وی

نبی کریم ﷺ فرمایی

((ونافخُ الكير: إما أن يَحرقَ ثيابَكَ، وإما أن تجد منه ريحا خبيثة))(1)

((د بد ملګری مثال پشان د سندان والا دی او دبخاری په روایت کی دی او دسندان ستا بدن سیزی یا دله جامی سیزی او ته به د هغی نه ناولی بوی مونده کوی))

او قسم په الله بد ملګری ستا کور په مختلفو فسادونو سره سیزی ددی مفسدانو د وجی په څومره کورونو کی دشمنیانی شروع دی

او ددوی په وجه خاوند د ښځی نه جدا وی او الله تعالی په هغه چا باندی لعنت کړی چی دښځی او خاوند مابین کی جدایی راولی یا هغه د مور پلا ر او بچو مابین کی د جدایی سبب شی

او په کورونو کی د سحر او جادو کیخودل او اکثر په کورونو کی غلا ګانی واقع کیدل او نور فسادونه هم دداسی خلکو کورونو ته د ننیستول نتیجه وی

پس لازمه ده چی دوی ته دداخلیدو اجازت ونشی برابره ده که ګاونډیان ښځی وی یا سړی یا دوستان وی

او بعضی خلک ددی نه شرمیګی چی څوک ددروازی نه رخصت کړی او اجازت ورته ونه کړی سره ددی چی د ه ته پته وی چی هغه مفسد دی

پد سلسله کی د ښځی باندی ددی مسوولیت ډیر غټ دی

---

(1) روايـة أبي داود (9284)

(c) ketabton.com: The Digital Library

.

نبی کریم ﷺ یو ه ورځ دری مرتبه وفرمایل کومه ورځ زه حرامه کړم ؟ صحابه وویل د حج ورځ بیا هغه په دی خطبه کی وفرمایل ستاسو په خپلو ښځو باندی دا حق لری چی هغوی هغه کس کور ته راننباسی چی تاسو یی بد ګڼړی

او هغه چاته اجازت ونه کړی چی ستاسو کور ته راشی او تاسو ورسره نفرت کوی

نو ای مسلمانی ښځی کله چی ستا خاوند تا د یوښځی د راننوتو د اجازت نه منع کړی نو ته ضد مه کوه ځکه هغه ته به ددی فساد معلوم شوی وی ځکه یی منعه کوی او باید ته خوشیاره اوسیږی چی دغه ښځه ستا د خاوند او د خپل خاوند مابین کی داسی معاهدی ونه کړی چی ته د خاوند نه داسی مطالبی وکړی چی د هغه وس کی نه وی او تا باندی لازمه ده چی خپل خاوند ته نصیحت وکړی کله چی ته محسوس کړی چی دهغه ملګری ستا خاوند په بدو کارونو کی واقع کول غواړی

او ای سړی ته باید کوشش کوی چی خپل کور کی موجود اوسی څومره چی ستا وس وی ځکه دولی الامر په کور کی موجودوالی د کور په تربیت کی معاون ثابتیږی او هغه د کور داحوالو اصلاح په مراقبی سره کوی

او بعضی خلک داسی خیال لری چی د کور نه باهر اوسیدل پکار دی او همیشه دکور نه باهر اوسږی مګر که باهر ورته ځای میلاو نشی نو خپل کور ته راځی

لیکن دا ډیر غلط سوچ دی لیکن کله چی یو کس دالله دطاعت لپاره دکور نه ووځی نو د هغی لپاره یو خاص وخت وی او یوڅو ورځی وی لیکن که د هغه وتل د ګناهونو په لاره کی او دوخت ضایع کولو کی وی نو باید الله تعالی ته توبه وباسی او ددنیا سره دی تعلق کم کړی دغه شان تجارتونه او بی ځای ملاقتونه دی هم په کثرت سره نه کوی ځکه غټ بدبخت سړی هغه دی چی خپل کوروالا یی پریخی وی او صرف دنیا پس شوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مونږ پدی وخت کی نه غواړو چی د مغربیانو کتابونو نه حوالی نقل کړو پدی باندی چی هغوی زمونږ اسلام ته څومره حیلی او چلونه جوړ کړی دی

لیکن یوه فقره چی په اخبار د مشرق اعظم ماسونی کی خپره شوی وه هغه د عبرت لپاره ذکر کوو

هغه داده چی هغوی وایی د یو فرد او دهغه د کورنی مابین کی جدایی لپاره تاسو باید د هغوی اخلاقو کی رول ولوبوی او د هغوی اخلاق خراب کړی ځکه د هغوی نفسونه د ی ته مایل دی چی د کور احوال ګډوډ وی او حرام شیانو طرفته مایله وی او د ا خوښه ګڼړی چی یو هوټل کی ګپ شپ ولګوی په نسبت ددی چی د کور په کارونو کی مصروفه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

16 د کور د احوالو په ملاحظه کولو کی دقت او هوشیاری نه کار اغستل

ستا د بچو دوستان څوک دی ؟

ایا ته هغوی پیژنی یا دی ورسره ملاقات کړی

د باهر نه ستا اولاد کور ته دځان سره څه شیان راوړی ؟

ستا لور چیرته ځی او د چا سره ځی ؟

بعضی پلارانو ته دا پته نه وی چی دهغوی د بچیانو په جیبونو کی ګنده تصویران او بد فلمونه او نشه یی شیان دی او بعضی ته د ا پته نشته چی دهغه لور د خادم سره بازار ته لاړه شی او خادم ته ووایی چی دلته انتظار کوه زاه راځم او د یو شیطان سره لاړه شی او بله لاړه شی چی د خپلی ملګری سره سګریټ او نشه وکړی او ګپ شپ ورسره ولګوی

او همدا کسان چی خپل اولاد دغه شان ازاد پریږدی دوی به هیڅکله د قیامت د هولناکیو نه بچ نشی

او دلته بعضی نکتی د باید دیته توجه وشی

۱ باید مراقبه او څارنه په پټه وی

۲ دی لپاره نه وی چی بچی ته ویره ورکړل شی

۳ باید د ماشومانو په خپل پلار باندی اعتمال ختم نشی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ باید په نصیحت کی سزا ورکولو کی د ماشوم د عمر خیال وساتل شی او دهغوی د غلطی مطابق سزا ورکړی شی

۵ د هغوی د هر حرکت څارل صحیح ندی

ماته یو کس وویل چی یو سړی دی هغه په خپل کمپیوټر کی د خپلو ماشومانو غلطیانی په تفصیل سره نوټ کړی دی کومه غلطی چی د هغوی نه کیږی هغه راغواړی او ورته وایی چی تا دافلانی فلانی غلطی کړی تر دی چی پخوانی غلطیانی ورته هم وربښکاره کړی

نو دا کس دی باید دتربیت اسلامی اصول زده کړی

او ددی په مقابل کی داسی کسان شته چی هغوی د اولاد په کارونو کی تدخل کول بالکل جایز نه ګنړی پدی دلیل چی که یو ماشوم او بچی غلطی وکړی نو هغه دسره خپله غلطی تسلیموی نه نو زمونږ د څارنی څه فایده؟

لیکن دا سوچ د غربی فسلفی د شیدو مذموم حریت نتیجه ده پس الله دی تباه کړی دغه شیدی ورکونکی فسلفه او د غه مذموم حریت

او بعضی خلک بالکل د خپل بچی پری کولاووی پدی ګمان چی ماته بد ونه وایی او دا وایی چی زه نه غواړه چی زما زوی زما څخه خفه او ناراضه شی

او بعضی پدی غلط ګمان خپل بچی ازاد پریږدی چی زما پلا ر چی ما سره کوم بد کړی دی زه باید د هغی برعکس کار د خپل زوی سره وکړم

او بعضی لا دا هم وایی چی پریږه خپل لور او ځوی چی د خپلی ځوانی څخه خوندونه واخلی

لیکن دوی ته د ا معلومه نده چی دغه ځوی او لور به د قیامت په ورځ خپل پلار د ګریوان نه نیسی او وایی به ای پلاره ولی دی زه ګناه ته پریخودی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷د کور په ماشومانو باندی خیال ساتل

او دا په مختلفو طریقو باندی چی د هغی نه بعضی په لاندی ډول دی

۱ هغوی ته په یادو باندی قران او اسلامی قصی ورزده کول

څومره ښه خبره ده چی پلار خپل بچی پدی مقصد باندی راټول کړی چی هغوی ته د قران څه سورتونه د مختصری ترجمی سره وریاد کړی

او هغوی لپاره پدی باندی انعامات مقرر کړی

او دا مشاهده شوی چی ډیرو ماشومانو سورت کهف حفظا یاد کړی د ی ځکه چی د هغوی پلار هغه هره جمعه تلاوت کوی

دغه شان بچو ته اسلامی عقیده ورزده کول هم پکار دی لکه پشان د دی

چی په حدیث کی راغلی رسول الله معاذ ته فرمایلی وو د الله حفاظت وکړه الله به ستا حفاظت وکړی

او هغه ته اسلامی اداب او اذکار ورزده کول لکه اذکار د خوراک خوب ټوخی کولو او اجازت غوښتلو

دغه شان داسلامی قصو اورول خپلو ماشومانو ته په هغوی باندی مثبت اثر کوی

او ددی قصو نه قصه د نوح علیه السلام او طوفان د ه قصه دابراهیم علیه السلام په باره د بوتانو ماتولو کی او د هغه په اور کی غورځیدل

قصه د موسی علیه السلام چی دفرعون نه یی نجات حاصل کړی وو

او غرقیدل د فرعون او د هغه دلښکرو په سمندر کی قصه د یونس علیه السلام په خیټه د ماهی کی او مختصرا قصه د یوسف علیه السلام او بعضی سیرت د نبی علیه السلام لکه د هغه مبعوث کیدل او هجرت او د بعضی غزوات قصی لکه غزوه بدر خندق وغیره لکه د نبی علیه السلام قصه د یو سړی سره چی خپل اوښ به یی ډیر وهلو او نوری قصی د نیکانو خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او قصه د عمر رضی الله عنه د یوی ښځی او د هغی د وړو بچو سره او قصه د اصحاب الاخدود او قصه د باغ والاو په سورت نون کی قصه د هغه دری کسانو چی غار کی حصار شوی وو او دغه شان نوری خوندوری قصی

چی د بعضی تفصیل او شرح سره هغوی ته بیان شی نو پدی سره هغوی د هغه بیکاره قصو نه بی پرواه کیږی چی هغه د ماشوم عقیده خرابوی او هغه په ویره او خوف کی مبتلا کوی

ماشومان باید د هر شی لپاره د کور نه باهر ونه وځی پدی سره هغوی د کور نه باهر بد اخلاق یادوی بلکه د ګاونډیانو د کورونو نه د بعضی نیکو ماشومانو انتخاب وشی او خپل کور ته هغوی راوبللی شی چی ددوی سره لوبی وکړی

د ماشومانو د لوبو خیال ساتل هغه لوبی چی فایده مندی وی او د هغوی لپاره باید د لوبو لپاره یو کمره خاص شی یا یو ځای چی هغی کی د لوبو سامان ګدی

او دهغو لوبو نه اجتناب وشی چی هغی کی د شریعت مخالفت وی لکه په لوبو کی د ګانی بجانی الات استعمالول وغیره

او بهتره ده چی د ماشومانو لپاره د لوبو سامان متوفر کړی شی او د هغوی لپاره د کمپیوټر بعضی مباح ګیمونه

لیکن پدی سلسله کی ددی خیال ساتل پکار دی چی بعضی کمپیوټری ګیمونه د زناه په تصویرانو باندی مشتمل وی هغی نه اجتناب وشی

تر دی چی ماته یو کس وویل یو داسی کمپیوټری ګیم دی چی هغی کی یو کس ګیم کوی نو یوه جینی به ځانله منتخبه کړی چی تا سره لوبه وکړی نو کله چی تا دا ګیم وګټوو نو هغه جینی به تاته په بی شرم او بی حیا شکل کی راښکار کیږی ددی په بدلی کی چی تا ګیم وګټوو

د ماشومانو هلکانو او جینکو په بیسترو کی جدا والی راوستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پدی ترتیب او فرق باندی دین داره کورنی عمل کوی

او بی دینه خلک ددی اهتمام نه کوی

د ماشومانو سره مزاح او محبت کول

نبی کریم ﷺ به د ماشومانو سره خوش مزاجی کوله د هغوی په سرونو به یی لاس راښکه او هغوی ته به یی په محبت کی اواز کوو

په هغو کی چی به کوم ډیر ماشوم وو هغه ته به یی میوه د ټولو نه مخکی ورکوله

او په لاندی ډول دنبی علیه السلام د حسن او حسین سره

د مزاح دوه مثالونه بیانیږی

ابو هریره رضی الله عنه فرمایی

((كان رسول الله ليدلع لسانه للحسن بن علي فيرى الصبي حمرة لسانه فيبهش إليه))

((نبی علیه السلام به د حسن بن علی لپاره خپله ژبه راویستله نو هغه به دژبی سوروالی ولیده نو خوشحاله به شو)) 1

(**(1) رواه أبو الشيخ في أخلاق النبي ﷺ وآدابه (481**

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنی دی کار به هغه لره خوشحاله وو او جذب کوو به یی

یعلی بن مره فرمایی ((" خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَدُعِينَا إِلَى طَعَامٍ فَإِذَا حُسَيْنٌ يَلْعَبُ فِي الطَّرِيقِ . فَأَسْرَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَامَ الْقَوْمِ . ثُمَّ بَسَطَ يَدَيْهِ . فَجَعَلَ يَمُرُّ مَرَّةً هَا هُنَا وَمَرَّةً هَاهُنَا . يُضَاحِكُهُ حَتَّى أَخَذَهُ . فَجَعَلَ إِحْدَى يَدَيْهِ فِي ذَقَنِهِ وَالأُخْرَى فِي رَأْسِهِ . ثُمَّ اعْتَنَقَهُ فَقَبَّلَهُ .))1

((مونږ د نبی علیه السلام سره په یو سفر کی وو او مونږ ته د روټی د عوت شوی وو

پدیکی حسین په لاره کی لوبی کولی نو نبی علیه السلام ورته وروړاندی شو او لاسونه یی ښواره کړه کله یی دیخواه وړل او کله یی اخوه هغه سره مزاح کوو تردی چی راوایغسته او یو لاس باندی یی د هغه ځټ ونیو او بل لاس باندی سر او بیا یی ښکل که))

---

(1) رواه البخـاري في الأدب المفـرد (463)

(c) ketabton.com: The Digital Library

18په کور کی د خوراک او خوب وختونه تنظیمول

د بعضی کورونو حال پشان د هوټلونو دی د هغی اوسیدونکی ډیر کم یو بل سره میلاویږی او ډیر کم یو بل پیژنی

او بعضی ماشومان کله چی یی زړه وغواړی خوراک کوی او کله چی یی زړه وغواړی وده کیږی پدی سره شوګیری کیږی وخت ضایع کیږی او یو خوراک بل پس کول دی

لیکن دا کارونه کول د کورنی علاقات او روابط متاثره کوی او ددی په وجه اوقات ضایع کیږی او دنفسونو کمزوری دی سره زیاتیږی

البته بعضی خلک دا عذر پیش کوی چی ماشومان هلکان دی او که جینکی د مدارسو څخه کور ته په مختلفو اوقات کی راوپس کیږی

دغه شان حال د مزدورانو او هغه کسانو دی چی مختلفی وظیفی لری لیکن دا د ټولو خلکو حال ندی

او د یوی کورنی په یو ځای باندی د خوراک او دکور د مسایلو د مشوری لپاره راټولیدل څومره ښه ښکاری

نو باید د کور مالک لره پکار دی چی د هر فرد د کور ته راوپس کیدو لپاره اوقات مقرر کړی او دغه شان د ماشومانو لپاره دا قانون جوړ کړی چی هغوی د کور نه بغیر د اجازت نه نه وځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹ د کور نه باهر د ښځی کار کول

د اسلام قوانین د یو بل تکمله ده او کله چی الله تعالی زنانه و ته دا حکم وکه((وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ)) الاحزاب 33

((چی په خپلو کورونو کی کینی))

نو دهغوی لپاره یی داسی څوک مقرر کړی چی هغوی باندی خرچه کوی لکه پلار او خاوند

او اصل دادی چی ښځه به د کور نه باهر دضرورت نه بغیر کار نه کوی لکه موسی علیه السلام چی د یو نیک سړی دوه لورګانی ولیدی چی ګدی او بیزی یی څرولی نو دهغوی نه یی پوښتنه وکړه

((قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۖ قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ الرِّعَاءُ ۖ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ)) (23)

((تاسو څه کوی هغوی وویل مونږ دا ګدی او بیزی تر هغه نه خړوبه کوو چی تر څو پوری دا نور خلک لاړ نشی او زمونږ پلار بوډا سړی دی))

نو هغوی د کور نه د وتلو لپار عذر پیش کړ چی زمونږ پلار بوډا دی او د ډیر عمر د وجی کار نشی کولی

او هغوی دی باندی حریصی وی چی بل څوک مونږ لپاره خادم شی او مونږ د کور نه ونه ووځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو خپل پلار ته یی وویل ((قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ ۖ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ)) سورة القصص (26)

((دی (موسی علیه السلام) لره خادم ونیسه بیشکه دا ډیر قوی او امانت ګر سړی دی))

نو دی ښځی پدی خبری سره خپل حرص ظاهر که چی هغه په کور کی کیناستل دی دی لپاره چی د هغه فتنو څخه ځان محفوظ کړی چی د کور نه باهر دوی ته پیش راځی

لیکن ددوه عالمی جنګونو نه وروسته کله چی د کافرو په سړو کی کم والی وو نو هغوی دی ته محتاج شو چی ښځی د کورونو نه راوباسی او په هغی باندی د جنګ خرابی دفع کړی او ددی سوچ سره د یهودو هغه سوچ هم ملګری شو چی هغوی و ایی مونږ د ښځو ازادی غواړو او دا په دی ارادی سره وایی چی د ښځو دین ته نقصان ورسوی او همدا وجه ده چی وس ښځو د کور نه دباهر کار کولو مطالبی هم شروع کړی

سره ددی چی زمونږ معاشره د هغو ی د معاشری پشان نده زمونږ معاشره کی سړی په ښځو باندی خرچی کوی لیکن د یهودو دا تحریک چی ښځو ته ازادی ورکړی هغه په تیزی دی

دی وجی نه خبره دیته ورسیده چی ښځه د باهر تلو مطالبی شروع کړی تر دی چی دا سندونه کوم چی جامعاتو کی تقسیمیږی ضایع لاړ نشی

که نه وی نو اسلامی معاشری دی شیانو ته ضرورت نلری په اکثره وظایفو کی ځکه ډیر سړی چی هغوی سره ډکریانی شته هغوی ددغی باوجود د وظیفو د موندلو نه قاصر دی او حال دا دی چی د ښځو دکار کولو لپاره میدانونه کولایږی لګیا دی

البته ددی نه انکار نشته چی په بعضی شعبو کی دښځی کار ته ضرورت شته لکه تعلیم ډاکټری کول لیکن دا په شرعی شرایطو باندی

او مونږ چی دا مخکینی مقدماتی طور سره خبری وکړی دا ددی وجی نه چی ډیر ښځی داسی دی چی هغوی دا سوچ لری چی د ښځو د کور نه بهر کار کول یو ضرورت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغوی د کارونو لپاره په کمه تنخواه باندی او بغیر د ضرورت نه ووځی ځکه هغه دا محسوسوی چی زما کار کول د کور نه باهر ضروری دی اگر که دکار ځای غیر مناسب وی او دی وجی نه ډیر غټی فتنی واقع شوی

په اسلامی قوانینو او علمانی سوچ کی بنیادی فرق دادی چی اسلامی تصور د ښځی د قضیی متعلق دا فکر کوی چی اصل د ښځو لپاره په کور کی کیناستل دی او د حاجت لپاره وتلی شی تاسو ته اجازت دی چی د خپلو حاجتونو لپاره ووځی او علمانیان دا وایی چی اصل د ښځی لپاره په ټولو حالاتو کی د کور نه وتل دی

نو درمیان قول پدی سلسله کی دادی چی بعضی وختونو کی د ښځی د کور نه بهر کار کول واقعی یو حاجت وی لکه کله چی ښځه د خاوند د مرگ نه پس د کور مالکه او مسووله وی یا یی پلار ډیر بوډا وی بهر ته نشی وتلی او دغه شان نو بلکی په بعضی هیوادونو کی د خاوند د کور په خرچو کی د مدد نه کولو په وجه ښځه دی ته ضرورت لری چی څه وظیفه وکړی او دکور خرچه پوره کړی تردی چی په نکاح کی هغوی دا شرط لگوی چی ښځی به وظیفه کوی یا به د کور نه باهر کار کوي

نو خلاصه داده چی د ښځی کار به کله د یو حاجت لپاره وی لکه دالله تعالی طرفته دعوت ورکول یا بل اسلامی هدف لپاره وتل ی

او هر چی د ښځی د کور نه باهر د کار لپاره وتل دی نو د ی باندی بیشماره منفی اثرات مرتب کیږی لکه دهغی نه بعضی په لاندی ډول دی

۱ په ډیرو شرعی منکراتو کی واقع کیدل لکه اختلاط د سړو سره د سړو سره ملاقاتونه کول د هغو سره خلوت کول او پردو سړو ته زینت ښکاره کول تردی چی اخیر خبره زنا ته ورسیږی

۲ خپل خاوند ته پوره حق نه ورکول او د کور خالی پریخودل او بچیانو په حق کی تقصیر کول چی دا زموبږ اصلی موضوع ده

د ښځی په زړه کی د خاوند د تابعداری او دهغه رعب او دبدبه کمیدل

دمثال په طور یوی ښځی سره د هغی د خاوند پشان سندونه وی او د خاوند نه یی تنخواه هم ډیره وی نو ایا ددی ښځی د خاوند سره محبت او د خاوند عزت به

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغومره وی څنګه چی د عامی ښځی وی ؟یا به داسی وی چی هغه به د خاوند نه ځان غټ او بی پرواه ګڼړی نو د کور حالات به دی وجه به د خرابی ښکار شی ؟

مګر بعضی ښځی شته چی هغوی باندی الله خپل فضل کړی وی او هغوی ددی باوجود هم د خاوند تابعداری وی

او هر چی د خاوند په کور او ښځی باندی خرچه کول دی نو دا هیڅکله نه ختمیږی

۵ د بدن ستړی والی او په ذهنی طور سره ستړی کیدنه چی د ښځی د طبیعت سره مناسب نه دی

ددی خبرو دپیش کولو نه پس چی د ښځی د کار کولو مفاسد او مصلحتونو باندی مشتملی وی دی نه پس مونږ واییو باید د الله تعالی تقوی اختیاره شی او دی مسالی ته د شریعت په نظر وکتل شی او هغه حالات وپیژندل شی چی هغی کی ښځی له د کور نه وتل جایز یا غیر جایز وی

او دنیوی کسبونه د ی مونږ ددی نه منع نه کړی چی حق لاره اختیاره کړو او خپلی ښځی ته نصیحت وکړو په هغه څه چی هغی کی یی فایده وی

او سړی له پکار دی چی د ښځی نه انتقامونه نه اخلی او نه د هغی مال په ناحقه باندی وخوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰ دکور د رازونو حفاظت کول

او دا بحث په یو څو خبرو مشتملی دی چی د هغی نه

د جماع متعلق خبری نه ښورول

د کورنی اختلافاتو باره کی چاته خبر نه ورکول او پټ ساتل

یو داسی خبره باهر ته نه وړل چی د هغی په وجه د کور یا دیو فرد ضرر وی

هر چی اولنی کار دی د هغی د حراموللی دلیل د نبی علیه السلام دا قول دی

((إن من أشر الناس عند الله منزلة يوم القيامة الرجل يفضي إلى امرأته وتفضي إليه ثم ينشر سرها ")) رواه مسلم **157/4** .

بیشکه د الله په نزد په ورځ د قیامت باند ی په خلکو کی ډیر سخت عذاب والا هغه کس دی چی د ښځی سره جماع وکړی او ښځه د هغه سره بیا د هغی راز خلکو ته بیانوی

او د یفضی معنی دا ده چی یو هغی سره جماع او مباشرت وکړی لکه دالله پدی قول کی چی تاسو د یو بل سره کوروالی کړی وی

او ددی د تحریم ددلایلو څخه حدیث د اسما بنت یزید چی هغه د نبی علیه السلام خواته وه او ښځی او سړی د هغه خواته ناست ووی

نو نبی علیه السلام وفرمایل لکه چی پتاسو کی یو کس د ښځی سره جماع وکړی هغه خلکو ته وایی او ښځه هم خلکو ته دی باره کی وایی چی خاوند ورسره څه کړی وی نو پدیکی ټول چپ شول ما وویل بیشکه ای رسول الله دوی ښځی اوسړی دا کار کوی

---

(1) رواه مسلم **157/4** .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وفرمایل دا کار مه کوی ددی مثال خو د یو شیطان دی چی د شیطانی ښځی سره په لار کی جماع کوی او خلک ورته ګوری

او په روایت د ابو داود کی دا حدیث په نورو الفاظو سره د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ چی تاسو کی یو تن خپلی ښځی ته راتګ وکړی او ځان پسی دروازه بنده کړی په ځان باندی پرده راوچوی او د الله په پردی سره ځان پټ کړی بیا خلکو سره کینی او وایی چی ما دا کار وکه

نو سړی چپ شول بیا ښځو ته متوجه شو او ویی فرمایی ایا په تاسو کی څوک داسی کار کوی نو هغوی هم چپ شوی پدی کی یوه جینی راپاځیده او رسول الله ته ورنیژدی شوه تر دی چی اواز ورله واوری ویی ویل بیشکه سړی او ښځی دواړه دا کار کوی نو رسول الله ﷺ وفرمایل ددی مثال د یو شیطان دی چی په کوڅه کی د شیطانی سره جماع کوی او خلک ورته ګوري

او هر چی دویم کار دی هغه دا چی د کورنی اختلافات باهر ته ایستل نو پدی سره د کور مشکلات نور هم زیاتیږی او باهر خلکو د ښځی او خاوند په کار کی مداخلت دی معاملی لره نوره هم سختوی ددی لپاره بهترین حل دادی چی د ښځی او خاوند د کورنی له طرفه یو یو کس مقرر شی او دی ته هم حاجت هله راځی چی په کور کی دمسالی حل راونه وځی او مشکل په صلح سره حل نشی نو بیا به مونږ هغه څه کوو چی الله راته امر کړی دی

پس تاسو ولیګی یو فیصله کونکی د خاوند دکور له طرفه او یو فیصله کونکی د ښځی له طرفه که چیرته دوی دواړه صلح کول غواړی نو الله به ددوی په کار کی توفیق واچوی

او هر چی دویم کار دی هغه دا چی د کور یا دکور یو فرد ته ضرر ورکول په نشر کولو د هغه د شخصیاتو نو دا هم جایز ند ی ځکه دا د نبی علیه السلم پدی قول کی داخلیږ ی نه ځان ته ضرر ورکوی او مه بل چاته

او ددی د مثالونو څخه د الله تعالی ددی قول تفسیر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیشکه الله تعالی تعالی بیان کړی دی د کافرانو لپاره مثالا ښځه د نوح او ښځه د لوط دا دواړه زمونږ د یو دوه نیکو بندګانو (نوح او لوط) په نکاح کی وی نو هغوی سره یی خیانت وکه

ابن عباس رضی الله عنهما ددی ایت په تفسیر کی فرمایی

د خیانت مطلب دا نه دی چی هغوی زنا وکړه بلکی د نوح د ښځی خیانت داوو چی هغی به خلکو ته د نوح باره کی ویله دا لیونی د ی

او د لوط د ښځی خیانت داوو چی هغی به خلکو ته خبر ورکوو چی زمونږ کور ته میلمانه راغلی دی

او عوفی د ابن عباس رضی الله عنهما نه ددی ایت تفسیر داسی بیانو ی

د هغی دواړو خیانت داوو چی هغوی د نوح او لوط په دین باندی نه وو

او دنوح ښځی به د هغه رازونه افشا کول چی چا به د هغه سره ایمان راوړه نو حاکمانو ته به خبر ورکوو چی فلانی ایمان راوړه

او د لوط ښځی به چی کله دهغه کور ته میلمانه راغله نو هغه خلکو ته به یی خبر ورکوو چی بد کاری به یی کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱ په کور کی د شفقت او نرمی اخلاق ښوروول

عایشه رضی الله عنها نه روایت د ی رسول الله ﷺ فرمایی ((إن الله إذا أحب أهل بیت أدخل علیهم الرفق "))(1) کله چی الله تعالی په یو کورنی باندی د خیر اراده وکړی نو هغوی ته د شفقت کولو توفیق ورکړی

او یو بل روایت کی راځی کله چی الله تعالی د یو کورنی سره محبت وکړی نو هغوی ته دشفقت کولو توفیق ورکړی

یعنی بعضی به په بعضو نورو باندی شفقت کول شروع کړی او دا د یو کور دسعادت او کامیابی اسبابو څخه یو سبب دی

پس د ښځی او خاوند او اولادو مابین کی شفقت کول ډیر فایده مند دی

او ددی داسی نتیجی راوځی چی هغه نتایج په سختی او تشدد سره نه حاصلیږی

لکه نبی علیه السلام فرمایی بیشکه الله تعالی شفقت والا دی او شفقت سره مینه کوی او په شفقت باندی هغه څه ورکوی چی په سختی باندی یی نه ورکوی او په بل شی یی نه ورکوی

---

(1) رواه ابن أبي الدنيا وغيره وهو في صحيح الجامع رقم 1704

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲ د کور خلکو سره د کور په کارونو کی مدد کول

اکثر خلک د کور د کار سره نفرت لری او بعضی دا فکر کوی چی د کور په کارونو کی مداخلت کول د هغوی قدر او مرتبه کموی

هر چی رسول الله ﷺ وو هغه به کپړه ګندله چپړی به یی سمولی او د عامو سړو پشان کار به یی کوو

دا خبره عایشی رضی الله عنها کړی ده کله چی هغی نه تپوس وشو چی نبی علیه السلام په کور کی څه کارونه کوی

او یو روایت کی راځی هغی وویل نبی علیه السلا م یو بشر وو کپړی به یی وینځلی بیزه به یی لشله او د ځان خدمت به یی کوو

او د عایشی رضی الله عنها نه تپوس وشو نبی علیه السلام باره کی هغی وفرمایل د کور کار کی به مشغول وو چی د مونځ وخت به شو نو مونځ ته به ووته

که نن ورځ مونږ دا کار وکړو نو مونږ به لاندینی مصلحتونه حاصل کړو

۱ د رسو الله تابعداری

۲ د کور خلکو سره دکور په کارونو کی مدد کول

۴ په نفس کی تواضع راتلل او د تکبر نه بچ کیدل

او بعضی خلک د ښځی نه روټی غواړی پداسی حال کی ماشوم ورته ژاړی نو نه دا ماشوم راوچتوی او نه صبر کوی نو باید دا احادیث دی دده لپاره عبرت وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳ د کور خلکو سره مزاح او خوش مزاجی کول

د ښځی او بچو سره خوش مزاجی کول دهغه اسبابو څخه دی چی په هغی سره کور کی محبت او الفت پیدا کیږی

او دی وجی نبی علیه السلام جابر رضی الله عنه ته نصیحت کړی وو ((فهلا بكراً تُلاعبها وتُلاعبك وتضاحكها وتضاحكك " 1وقال صلى الله عليه وسلم : " كل شيء ليس فيه ذكر الله فهو لهو ولعب إلا أربع . ملاعبة الرجل امرأته .. "))2

چی د ځوانی جینی سره نکاح وکړی او هغه ته یی پدی قول سره ترغیب ورکړی وو چی تا ولی د ځوانی سره نکاح نه کول تا به ورسره لوبی کولی او هغی به تاسره او یو بل سره به مو خندا او خوش مزاجی کولی

او نبی کریم ﷺ فرمایلی دی هر هغه شی چی د الله ذکر پکی نه وی نو هغه به لهو او لوبی وی مګر د سړی ښځی سره لوبی کول

او عایشه رضی الله عنها فرمایی ما او نبی علیه اسلام به د یو لوخی نه غسل د جنابت کوو چی زمونږ مابین کی به پروت وو چی هغه به لاس راوړاندی کړو نو ما به ورته وویل ما له اوبه پریږده ماله اوبه پریږده

هر چی د هغه د ماشومانو سره د خوش مزاجی واقعات دی نو هغه انتهایی ډیر دی هغه به ډیر کرته د حسن او حسین سره مزاح کوو لکه دی باره کی خبره تیره شوه

او همدا وجه وه چی ماشومان به د هغه په راتګ باندی ډیر خوشحالیدل

---

(1) البخاري مع الفتح 9/121 (2)رواه النسائي في عشرة النساء ص 87

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کله چی به هغه راغلی نو د استقبال لپاره بی یی منډی وهلی

لکه یو صحیح حدیث کی راځی کله به چی رسول الله ﷺ د سفر نه راغلی نو ماشومان به استقبال ته ورتلل

او هغوی به یی غیږ کی راغستل لکه عبدالله بن جعفر رضی الله عنه فرمایی کله چی به رسول الله د سفر نه راغلو نو ماشومانو به د هغه استقبال کوو یو ځل زه چا د هغه مخی ته وروړم نو هغه زه په غیږ کی راونیول او پدیکی د فاطمه رضی الله عنها یو ځوی هم راوړلی شو نو هغه یی په سورلی باندی ځان سره شاته کینوو او مونږ مدینی ته په سورلی باندی دری کسان داخل شو

نو ته ددی احوالو او هغه احوالو مقارنه وکړه چی په بعضی کورنو کی نن صبا دی نه مزاح نه نرمی او نه شفقت او څوک چی د ا ګمان کوی چی دما شوم ښکلول د پلار په هیبت او رعب کی کمی پیدا کوی هغه دی باید دا حدیث ولولی

ابو هریره رضی الله عنه فرمایی یو ورځ رسول الله ﷺ حسن ښکل که پدی موقع باندی اقرع بن حابس ناست وو هغه وویل زما لس بچیان دی تر وسه پوری می یو هم ندی ښکل کړی رسول الله ﷺ وفرماییل څوک چی د الله په مخلوق باندی رحم نه کوی په هغه باندی الله رحم نه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

24 په کور کی د بدو اخلاقو سره مقاومت کول

د کور یو کس هم د بدو اخلاقو څخه بچ ندی لکه دروغ ویل غیبت چغل خوری او دغه شان نور نو باید ددی اخلاقو مقاومت وکړی شی

او بعضی خلک خو دا نظر لری چی بدنی سزا ورکول پداسی حالت کی واحد سبب دی

په لاندی ډول دی باره کی یو صحیح حدیث دی چی تربیت ترینه حاصلولی شی

عایشه رضی الله عنها فرمایی نبی علیه السلام چی به د کور د یو تن نه دروغ واوریدل نو مخ به یی ترینه اړولی وو تر دی چی توبه به یی وکړه

دی حدیث نه دا هم معلومیږی چی پداسی حالت کی د مخ اړولو او خبرو پریخودل ډیر موثر علاج دی او دبدی سزا او وهلو نه هم ډیر اثر لری باید د کور خاوند دی پری سوچ وکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۵ پداسی ځای کی لښته راځوړندول چی د کور خلک هغه وینی

د سزا ورکولو دهمکی د تادیب له اهمو اسبابو څخه یو سبب دی دی وجی نه حدیث کی د لښتی یا امسا ځوړندولو حکم راغلی دی

په حدیث کی راځی رسول الله ﷺ فرمایی(**علقوا السوط حيث يراه أهل البيت**)

په کور کی هغه ځای کی لښته راځوړندوی چی د کور خلک یی وینی

او په کور کی د سزا الات راځوړندولو په وجه بداخلاقه خلک یریږی او د بدو کارونو څخه اجتناب کوی ځکه د وهلو نه یریږی

نو دا دهغوی دپاره یو ادب او دښو اخلاقو په اختیارولو باندی باعث دی

ابن الانباری فرمایی: پدی سره د نبی علیه السلام مراد وهل ندی ځکه زمونږ شریعت په وهلو باندی چاته حکم نه کوی بلکی دهغه مطلب دادی چی دادب لښته د هغوی نه مه اوچتوه

او وهل اصل مقصد ندی دی ته خو هغه وخت ضرورت راځی چی د ادب ورکولو نور وسایل ختم شی یا وهل ددی لپاره وی چی خلک دالله حکمونه ومنی

لکه الله تعالی فرمایی واللاتي تخافون نشوزهن فعظوهن واهجرهن في المضاجع

واضربوهن " النساء الآية 34

او هغه زنانه چی تاسو د هغوی د مخالفت نه ویریږی نو هغو ی ته نصیحت وکړی او په بیسترو کی د هغوی نه بیل شی او هغوی ووهی کله چی هغوی ستاستو تابع شی نو بیا ورته څه مه وایی دا په ترتیب سره د ادابو بیان دی

---

(1) **أخرجه أبو نعيم في الحلية 33/7**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او حدیث کی راځی " مروا أولادكم بالصلاة وهم أبناء سبع سنين . واضربوهم عليها وهم أبناء عشر "1

چی خپلو بچیانو ته د مونځ حکم وکړی کله چی د ۷ کاله شی او کله چی د ۱۰ کاله شی نو بیا یی مونځ باندی وهلی هم شی

او په بیسترو کی د هغوی مابین کی جدایی راولی

اوهر چی بغیر د ضرورت نه د چا وهل دی نو دینه شریعت منع کوی او رسول الله ﷺ یوی ښځی ته نصحیت کړی وو چی هغه سړی سره نکاح ونه کړی چی هغه ډیر وهلو والا وی او د خپل ولی نه لښته نه کوځوی

او هر هغه کس چی وهل بالکل جایز نه ګنړی نو هغه د کافرو د نظریاتو تقلید کوی او دده رایه د قران او حدیث خلاف ده

---

(1) سنن أبي داود 3/1

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۶ نه ۳۶ پوری

۲۶ د ښځی دخاوند په غیر موجودګی کی د هغی رشته دارانو محارمو سړو ته کور ته د ننوتو اجازت نه مه ورکوی

۲۷ په کورنی ملاقاتونو کی زنانه د سړو څخه بیلی کینول

۲۸ د دریورانو او د کور د خادمانو له خطری نه ځان هوشیار ساتل

۲۹ هیڅ ځای ګان له کورونو څخه وباسی

۳۰ د کمپیوټر د شیشی او د ټی وی نه په ویره شه

۳۱ د موبایل د شره نه خبر شه

۳۲ د کور نه هر هغه شی وباسه چی د کفارو علامات پری وی

۳۳ دکور نه دروح والا شیانو تصویران لری کړه

۳۴ په خپلو کورنو کی د سیګریټ وغیره د نشی نه منع وکړه

۳۵ د سپو ساتنی نه ځان وساته

۳۶ د کورونو دباهر او دننه نه ډولی کولو نه ځان وساته

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۷ د کور جوړولو لپاره بهترین ځای کتل

مسلمان لره پکار دی چی د کور اختیارولو او جوړولو په وخت کی د هغه شیانو خیال وساتی چی غیر مسلم یی نه ساتی

نو د ځای په اعتبار سره باید کور د مسجد سره نژدی وی او ددی ډیر فایدی دی اذان اوریدلی شی مونځ ته حاضر او په جماعت سره مونځ کول اسانیږی

دغه شان زنانه د تلاوت اوریدو ځخه استفاده کوی ما شومان د قران د حفظ حلقو کی حاضریږی

کور باید داسی ځای کی نه وی چی هلته فاسق فاجر خلک اوسیږی یا داسی معاشره نه وی چی کافران پکی اوسیږی

کور باید با پرده وی او د هغی ټول جوانبو باندی پرده چاپیره وی

او د تصمیم د جهته باید د پردو میلمونو د راتلو په وخت کی دپردو اچولو ځخه کار واغستل شی کله چی کور کی داسی ځای نه وی چی د ښځو او سړو ناسته پکی وشی

کړکیو ته پردی اچول چی د بهر نه دننه پکی ځوک نه ښکاری خصوصا دشپی کله چی د خوب وخت وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

38 د کور اختیارولو نه مخکی د ګاونډی انتخاب

دا مساله دډیر اهمیت حامله ده د ی وجی نه مونږ دی کی تفصیل کوو

زمونږ په دی زمانه کی د ګاونډی په بل باندی ډیر غټ اثرات دی ځکه خلک د یو بل سره نژدی اوسیږی او کوڅو او اجتماعاتو کی راجمع کیږی

او رسول الله د سعادت د اسبابو نه یو داهم ذکرکړی دی چی ګاونډی نیک وی او د بدبختی ددڅلور اسبابو څخه یی یو بد ګاونډی ذکر کړی دی

او ددی اخیری د خطر د وجی نه به یی په دعا کی دده د شر نه دعا غوښتله

ای الله زه ستا نه د بد ګاونډی پناه غواړم کوم چی زما د ددایمی او مستقل کور خواته اوسیږی او هر چی د صحرا ګاونډی دی هغه دیو ځای نه بل ځای ته تلی شی

او مسلمانانو ته یی هم حکم کړی چی ددی نه پناه وغواړی

او د مقام د تنګوالی د وجی نه زه د بد ګاونډی بد اثرات په ښځی خاوند او ماشومانو باندی نشم ذکر کولی

لیکن که دا مذکوره احادیث په واقع باند ی تطبیق کړی شی نو دی کی ډیر غټ عبرت دی

اوددی بهترین حل هغه دی چی بعضی نیکان خلک یی کوی هغه دا چی هغوی په خپل ګاونډ کی د نیکانو خلکو لپاره کورونه په خپله خرچه باندی نیسی ځکه چی نیک ګاونډی باندی پیسی خرچ کول څه غټه خبره ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۹ په کور کی د لازمی شیانو راوړلو اهتمام کول او دراحت وسایل متوفرول

پدی زمانه کی د الله تعالی په مونږ باندی دا انعام دی چی داسی شیان یی راته متوفر کړی چی په هغی سره زمونږ زندګی اسانیږی

لکه ای سی پریچ د جامو وینځلو مشین وغیره نو باید د کور والا دا شیان په هغه اندازه کی راوړی چی څومر ه د هغه په استطاعت کی وی

او باید د شیانو په اغستلو کی دا خیال وشی چی ښه شیان واغستل شی او د کمزوی شیانو نه اجتناب وشی

او په کور باندی داهتماماتو نه دادی چی کور کی څه شی خراب شی هغه باید جوړ کړی شی

بعضی خلک ددی پرواه نه کوی او د هغوی بیبیانی دا شکایت کوی چی کور کی حشرات مچان وغیره ډیر دی بد بوی دی او د کور بعضی شیان مات شوی دي

نو پدی کی هیڅ شک نشته چی ددی په وجه د کور سعادت ختمیږی ا و کور کی د صحت متعلق مشکلات زیاتیږی نو عاقل هغه کس دی چی ددی علاج وکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۰ د کور د خلکو د صحت خیال ساتل او د روغتیا وسایل مهیا کول

نبی علیه السلام عادت داوو چی کله به د هغه کور کی څوک بیمار شو نو په معوذاتو سره به یی دموو

او کله چی به چا باندی تبه راغله نو یو قسم خوروا باندی به یی حکم وکه چی هغه پخه کړی شی بیا به یی هغه مریض ته ورکړه

او فرمایل به یی دی سره د غمجن زړه مضبوطیږی او دبیمار د زړه درد ختموی لکه څنګه چی یو تنه پتاسو کی د خپل مخ نه په اوبو سره خیری ختموی

او د ماشومانو د حفاظت اوسلامتی خیال ساتلو باره کی جابر رضی الله عنه فرمایی

نبی علیه السلام فرمایی کله چی شپه راشی نو خپل واړه باهر ته مه اوباسی ځکه دی وخت کی شیطانان ښوریږی نو کلی په ماښوستن باندی یو ګهیټه تیره شی بیا یی پریږدی او خپله دروازه بنده کړه د الله نوم یاد که او ډیوی مړی کړه د الله نوم یاده که او لوخی باندی سر کیږده

او په روایت د مسلم کی د ی چی لوخی باندی سر کیږدی او د اوبو مشکیزی له خوله وتړی دروازی بندی کړی ډیوی مړی کړی

ځکه شیطان لوخی نشی کولاولی دروازه نشی او دلوخی نه سر نشی لری کولی

او کله چی ستاسو سره هیڅ نه وی مګر یو لرګی د عود نو هغه دی په لوخخی باندی کیږدی ځکه مړه د کور فاسدول او ورانول غواړی

او نبي علیه السلام فرمایي: کله چي تاسو اوده کیږئ نو اور بل مه پریږدئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

الصفحة	د موضوعاتو فهرست
2	د مولف مقدمه
7	د کور جوړول
7	اولنی نصیحت،د ښې او نیکې ښځې اختیارول
11	دویم نصیحت ، د خپلی ښځی د اصلاح کولو لپاره کوښښ کول
13	په کور کي د ایمانیاتو اهتمام کول
13	دریم نصحیت ،خپل کور د الله د ذکر ځاي وګرځوه
14	څلورم نصیحت ،د خپلو کورونو نه قبله جوړه کړی
17	پینځم نصیحت : د کور دخلکو ایمانی تربیت کول
19	شپږم نصیحت ،۶ په شرعي اذکارو او هغه نفلي مونځونو باندي اهتمام کول چي کور کی ادا کولی شي
21	اووم نصحیت،۷ دشیطان شړلو لپاره په کور کي سورت بقره بار بار لوستل
22	په کور کی علم شرعی
22	اتم نصیحت ، د کور خلکو ته تعلیم ورکول
27	نهم نصیحت ، پخپل کور کي یوه اسلامی مکتبه جوړه کړه
30	لسم نصیحت، په کور کی یوه صوتی مکتبه جوړول
33	یولسم نصیحت ، نیکانو خلکو او طلبه و د علم ته د خپل کور د زیارت کولو د عوت ورکول
34	دولسم نصیحت ،۱۲ دکورونو متعلق د بعضی شرعي احکاماتو زده کړه
43	دیارلسم نصیحت ، د کور د مسایلو باره کی د خبرو اترو لپاره فرصت ورکول
45	څوارلسم نصیحت ،14 د ماشومانو مخي ته د کورنی جګړو اظهار نه کول
46	پینځلسم نصیحت ، د هغه چا کور ته نه پریخودل چی بی دینه وی
49	شپاړسم نصیحت،16 د کور د احوالو په ملاحظه کولو کی دقت او هوشیاری نه کار اغستل
51	اولسم نصیحت ،۱۷د کور په ماشومانو باندی خیال ساتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم نصیحت، په کور کی د خوراک او خوب وختونه تنظیمول	55
نونلسم نصیحت،۱۹ د کور نه باهر د ښځی کار کول	56
شلم نصیحت، ۲۰ دکور د رازونو حفاظت کول	60
یویشتم نصیحت،۲۱ په کور کی د شفقت او نرمی اخلاق ښورول	63
دویشتم نصیحت،۲۲ د کور خلکو سره د کور په کارونو کی مدد کول	64
دریشتم نصیحت،۲۳ د کور خلکو سره مزاح او خوش مزاجی کول	65
څلورویشتم نصیحت،24 په کور کی د بدو اخلاقو سره مقاومت کول	67
پینځیشتم نصیحت: ۲۵ پداسی ځای کی لښته راځوړندول چی د کور خلک هغه وینی	68
شپږویشتم نصیحت،۲۶ نه ۳۶ پوری	70
وه دیرشتم نصیحت،۳۷ د کور جوړولو لپاره بهترین ځای کتل	71
اته دیرشتم نصیحت،38 د کور اختیارولو نه مخکی د ګاونډی انتخاب	72
نهه دیرشتم نصیحت،۳۹ په کور کی د لازمی شیانو راوړلو اهتمام کول او دراحت وسایل متوفرول	73
څلویښتم نصحیت، ۴۰ د کور د خلکو د صحت خیال ساتل او د روغتیا وسایل مهیا کول	74

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library